
# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دیارلسم کال، یوسلو یو پنځوسمه ګڼه د ۱۳۹۸ کال د مرغومي میاشت




## حدود ۱۵۱ میلیون دالر افزایش در ذخایر خالص ارزی



## هموطنان گرامی!

## بیرق ملی، سرود ملی و پول ملی از جملۀ ارزش های ملی ما هستند

## د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینی خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانک یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او په دې برخه کې ټول فعالیتونه غیرقانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې معرفي کړي.

## بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


حدود ۱۵۱ میلیون دالر افزایش در ذخایر خالص ارزی

د افغانستان بانک د عالي شورا غونډه ترسره شوه

شورای هماهنگی توسعه خدمات مالی در د افغانستان بانک تشکیل جلسه داد

اولین ورکشاپ طرح ریزی صکوک دولتی

د افغانستان بانک، سترې محکمې او حرکت موسسې ترمنځ د هوکړه لیک لاسلیک

ولسی جرگه از کارکردهای د افغانستان بانک ستایش بعمل آورد

ورکشاپ دانش مالی برای آموزگاران مؤسسه آموزشی، فرهنگی و اجتماعی زنان افغانستان

د افغانستان بانک په مشرۍ د سارک فایننس ریاست په بریالي توګه پای ته ورسېد

د سوداګرو او پانګه‌والو لپاره د پورونو په ورکړه کې د آسانتیاوو رامنځته کېدل

مختصری بر فعالیت های اطلاعاتی د افغانستان بانک طی سال مالی ۱۳۹۸

د افغانستان بانک عملیاتي کړنوته ځغلنده کتنه

اقتصادي خبرونه

د لږو عاید لرونکو کورنیو لپاره د سیما غوره لارې چارې

د مرکزي بانکونو له لوري د منفي ګټې پالیسی او پر اقتصاد یې اغېزې

بې بدیله کرنیز بوټی په نړیواله توګه د ځلېدو په حال کې

ارزش علامت تجارتی

په ملي اقتصاد کې د صنعت رول او د هغه ځانګړتیاوې

د کورنیو وریجو په تولید کې نهه سلنه زیاتوالی

دارایی مشهود و غیر مشهود



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

سرمقاله

# حدود ۱۵۱ میلیون دالر افزایش در ذخایر خالص ارزی

ذخایر خالص بین المللی افغانستان که در آخر سال مالی ۱۳۹۷، در حدود ۷۷۰۸.۵۸ میلیون دالر امریکایی ثبت شده بود؛ در ۱۳ قوس ۱۳۹۸ به ۷۸۵۹.۸۳ میلیون دالر امریکایی رسید که جمعاً ۱۵۱.۲۵ میلیون دالر امریکایی افزایش را از ابتدای سال مالی نشان می دهد. ذخایر خالص فعلی ارزی کشور در حال حاضر تکافوی حدود یک سال واردات کشور را می نماید؛ این در حالیست که اگر کشوری واردات سه ماهۀ خود را بوسیله ذخایر ارزی پوشش دهد، از لحاظ ذخایر ارزی در وضع و موقف بهتری قرار دارد.

بدون شک، میزان این ذخایر و چگونگی افزایش آن تأثیر مستقیم روی تطبیق بهتر سیاستهای پولی و نیز کنترول شاخص های چون نرخ مبادله افغانی، تورم، حفظ ثبات و تعادل بیلانس تأدیات دارد.

د افغانستان بانک برای نیل به هدف اصلی اش که همانا ثبات قیم است، در پهلوی لیلام اوراق سرمایوی د افغانستان بانک از لیلام ارز نیز استفاده بعمل می آورد. ارزی که در کنار اوراق سرمایوی منحیث وسیله سیاست پولی توسط د افغانستان بانک لیلام می گردد، بر اساس سیاست های پولی و ارزی صورت میگیرد.

د افغانستان بانک مدیریت ارزی کشور را به شکلی تحت کنترول قرار داده که از یک طرف به هدف اصلی اش که ثبات قیم است، رسیده؛ و از طرف دیگر واردات کالا و اجناس مورد نیاز کشور را تحت پوشش قرار داده و در عین زمان در میزان ذخایر ارزی کشور نیز افزایش آورده است.

د افغانستان بانک طی چند سال اخیر نه تنها در مدیریت ذخایر ارزی کشور موفق بوده، بلکه توانسته است که اهداف مقداری برنامه تسهیل تمدید کریدت را در بخش های چون نرخ تورم پائین، ثبات نسبی نرخ مبادله افغانی با وجود چالش های داخلی و منطقوی و پائین بودن شاخص های پولی ( پایه پولی و پول در گردش) نسبت به سقف تعیین شده در هماهنگی با صندوق بین المللی پول با موفقیت تکمیل نماید.

# د افغانستان بانک د عالي شورا غونډه ترسره شوه



د افغانستان بانک عالي شورا چې د دې بانک د تصمیم نیونې تر ټولو لویه مرجع ده، څلورمه نوبتي غونډه یې د ۱۳۹۸ کال د مرغومې د میاشتې په ۱۴ مې او ۱۵ مې نیټې په اوږدو کې د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر په مشرۍ او د عالي شورا د نورو غړو په شتون کې ترسره شوه.

د دې غونډې په پیل کې د افغانستان اقتصادي وضعیت پرځرنګوالي، د پولي سیاست پرتطبیق، د بانکي نظام کړنې او د هېواد د مالي نظام پر اړوند موضوعاتو بحث ترسره شو.

د یادې غونډې په پیل کې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال واحدالله نوشیر له اجنډا سره سم د لاسته راوړنو او ننګونو په اړه په تفصیل سره خبرې وکړې او وروسته یې د افغانستان بانک د اړوندو څانګو پروګرامونه او راپورونه واوریدل شول چې په دې برخه کې د عالي شورا له خوا لازمې پریکړې وشوې.

# شورای هماهنگی توسعه خدمات مالی در د افغانستان بانک تشکیل جلسه داد



کابل، ۱۲ جدی ۱۳۹۸- نخستین مجلس شورای هماهنگی توسعه خدمات مالی تحت ریاست محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک و با اشتراک معینان محترم وزارت های اقتصاد، صنعت و تجارت، رئیس اجرائیوی اتحادیه بانک ها و رئیس مؤسسه مسفا در دفتر مجالس مقام عالی ریاست د افغانستان بانک برگزار گردید.

در آغاز مجلس محترم نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک گفت که د افغانستان بانک به هدف افزایش سطح دسترسی مردم به خدمات مالی، نخستین راهبرد ملی توسعه خدمات مالی را در مشوره با نهاد های ذیدخل دولتی و سکتور خصوصی تدوین نموده و از شروع سال مالی ۱۳۹۹ مرحله تطبیق راهبرد مذکور رسماً آغاز و قرار است برای پنج سال ادامه یابد.

سپس محترم میر شکیب میر، آمر عمومی توسعه خدمات مالی د افغانستان بانک پیرامون دیدگاه، تعریف، اهداف، ساحات دارای اولویت پالیسی و ساختار هماهنگی راهبرد مذکور به اعضای محترم شورای هماهنگی معلومات مفصل ارایه داشته و بر نقش تقویت هماهنگی و تشریک مساعی ادارت ذیدخل در تطبیق موفقانه راهبرد ملی توسعه خدمات مالی تأکید کرد.

سپس اعضای شورای هماهنگی توسعه خدمات مالی محترم محمد اسماعیل رحیمی معین مسلکی وزارت اقتصاد، محترم ظهورالدین شیرزاده معین انکشاف سکتور خصوصی و صنایع، محترم بهرام برزین رییس اداره مسفا، و محترم نجیب الله امیری رییس اجرائیوی اتحادیه بانکها در رابطه به چگونگی تطبیق موفقانه راهبرد مذکور نظریات شان را شریک ساخته و روی پیگیری سه اولویت مشخص در شش ماه آینده تصمیم اتخاذ نمودند.

شایان یاد آوریست که شورای هماهنگی توسعه خدمات مالی اساساً به هدف تعیین استقامت کُلی پالیسی و راهبردی برای تطبیق راهبرد ملی توسعه خدمات مالی، حمایت از تطبیق راهبرد مذکور در سطح دولت، همکاری در تامین هماهنگی و تشریک مساعی نهاد های ذیدخل در تطبیق راهبرد مذکور، راهنمایی غرض روی دست گیری اصلاحات عمده و لازم پالیسی و قانونی به هدف نیل به دیدگاه و اهداف راهبرد ملی توسعه خدمات مالی؛ و حمایت از ادغام اولویت های راهبرد ملی توسعه خدمات مالی در ستراتیژی ها و پلان های کاری ادارت ذیدخل، ایجاد شده و فعالیت می نماید.

# اولین ورکشاپ طرح ریزی صکوک دولتی



کابل،۱۷ جدی ۱۳۹۸- د افغانستان بانک اولین ورکشاپ طرح ریزی صکوک دولتی را به اشتراک نمایندگان وزارت عدلیه، اتحادیه بانک ها، بانکها تجارتی و اتحادیه صرافان دایر نمود.

در نخست محترم دوکتور محمد یوسف سلیم آمر بانکداری و خدمات مالی اسلامی روی موضوع صکوک پریزنتیشن همه جانبه ارائه نمود و در مورد طرح ریزی صکوک دولتی به اشتراک کننده‌گان این ورکشاپ معلومات داد.

سپس محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک روی موضوع صحبت نموده و تأکید کرد که آگاهی عامه، داشتن چهارچوب قانونی، به دست آوردن اعتماد مردم و توسعه این خدمات نکاتی اند که باید در طرح ریزی صکوک در نظر گرفته شوند.

در ادامه، در مورد طرح ریزی صکوک دولتی بین اشتراک کننده گان این ورکشاپ تبادل نظر صورت گرفت و در مورد مشوره های مفید و ارزنده ارائه شد که از آنها میتوان استفاده ممد کرد.

قابل یادآوری است که در این ورکشاپ معین مسلکی وزارت محترم عدلیه، رئیس محترم اتحادیه بانکها، نماینده گان بانکهای تجارتی، نماینده گان صرافی‌ها و عدهٔ از آمرین و معاونین د افغانستان بانک اشتراک نموده بودند.

باید گفت که در اخیر این ورکشاپ محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک حضور یافته و در مورد اهمیت صکوک در نظام بانکداری اسلامی صحبت نموده، وی صکوک را به عنوان اوراق قرضه اسلامی با اهمیت خواند.

ناگفته نباید گذاشت که در این ورکشاپ محترم محمد قاسم حلیمی معین مسلکی وزارت عدلیه هم روی موضوع صحبت نمود و در مورد ساختن چهارچوب قانونی برای صکوک دولتی وعده هر نوع همکاری را داد.

# د افغانستان بانک، سترې محکمې او حرکت موسسې ترمنځ د هوکړه لیک لاسلیک



د ۱۳۹۸ کال د مرغومې ۲۳ – د افغانستان بانک، سترې محکمې او حرکت موسسې ترمنځ قاضیانو ته د مالي او بانکي زده کړو د ورکړې هوکړه لیک لاسلیک شو.

په هغه مراسمو کې چې په همدې مناسبت د افغانستان بانک د کنفرانسونو په تالار کې جوړ شوي وو، د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي یادونه وکړه چې د دې پروګرام له پلي کېدو موخه د ښو خدمتونو وړاندې کول، قاضیانو او څارنوالانو ته د مالي او بانکي زده کړو ورکول، په دې برخه د خلکو د باور زیاتول او نور شامل دي.

ورپسې د سترې محکمې د قضایي تعلیماتو رئیس ښاغلي عبدالله عطایي خبرې وکړې او یاد هوکړه لیک یې د اړوندو ادارو ترمنځ د غوره همکاریو یوه بېلګه یاده کړه.

نوموړي زیاته کړه چې د دې پروګرام په پلي کېدو سره به قاضیان او څارنوالان وکولای شي چې په سوداګریزو او بانکي مسایلو کې په ښه ډول د موضوعاتو تدقیق او ارزونه وکړای شي او دا چاره به په دې برخه کې لا روښتیا رامنځته کړي.

د دې غونډې په ترڅ کې د حرکت موسسې اجرائیوي رئیس ښاغلي نجیب الله صمیم هم د یاد هوکړه لیک په اړه له ګډونوالو سره هر اړخیز معلومات شریک کړل او یادونه یې وکړه چې د دې پروګرام له لارې به د هېواد په ۸ زونونو کې ۲۴۰ تنو قاضیانو او څارنوالانو ته د مالي او بانکي قوانینو او نورو اړوندو برخو په اړه زده‌کړې ورکړلې شي.

د نوموړي په خبره د دې پروګرام په پلي کېدو به کابو ۳۰۰ زره امریکایي ډالر لګښت راشي چې د حرکت موسسې له لوري به ورکول شي.

د یادونې وړ ده چې د دې هوکړه لیک د لاسلیک په غونډه کې د عدلي او قضایي ادارو، سوداګریزو بانکونو او د یو شمېر نورو ادارو استازو هم ګډون کړی وو.

# ولسی جرگه از کارکردهای د افغانستان بانک ستایش بعمل آورد



کابل، ۲۵ جدی ۱۳۹۸:- شماری از اعضای ولسی جرگه از فعالیت ها و کارکردهای مثبت د افغانستان بانک در رابطه به تأمین و حفظ ثبات قیمت ها، تأمین ثبات مالی، طرح، اتخاذ و اجرای سیاست های مؤثر پولی در افغانستان، اجرای سیاست های مؤثر و ادارۀ مطلوب ذخایر ارزی افغانستان و مؤثریت روند ترویج پول ملی با اعطای لوح تقدیر، ستایش بعمل آورد.

محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک به نمایندگی از هیئت رهبری و کارمندان د افغانستان بانک از تقدیر اعضای ولسی جرگه سپاسگزاری نموده گفت که تقدیر از کارکرد های د افغانستان بانک نمایانگر تلاش مثبت کارمندان و رهبری د افغانستان بانک میباشد که تعهد ما را به اجرای مؤثر وظایف مستحکم تر میسازد.

وی گفت که به نمایندگی از د افغانستان بانک از اعتماد اعضای محترم ولسی جرگه، تشکری می نمایم.

# ورکشاپ دانش مالی برای آموزگاران مؤسسه آموزشی، فرهنگی و اجتماعی زنان افغانستان




کابل، ۲۶ جدی ۱۳۹۸– د افغانستان بانک ورکشاپ دو روزه دانش مالی را برای آموزگاران مؤسسه آموزشی، فرهنگی و اجتماعی زنان افغانستان راه اندازی نمود.

در ورکشاپ متذکره روی نقش دانش مالی در بهبود وضع زندگی افراد، خانواده ها و متشبثین از طریق استفاده منظم و مؤثر از خدمات مالی، مفاهیم مالی، محصولات و خدمات مالی و بانکی، نقش مؤسسات مالی در رشد اقتصادی، موارد مهم حین انتخاب مؤسسه مالی و انتخاب یک محصول مناسب، مطابق نیاز و چگونگی استفاده از خدمات مالی بحث صورت گرفته و برای اشتراک کنندگان در زمینه معلومات لازم ارائه گردید.

قابل یادهانی می باشد که در پایان این ورکشاپ محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک حضور یافته و در مورد اهمیت دانش مالی صحبت نموده و افزود که آموزش مالی یکی از اهداف د افغانستان بانک است و این پروسه در آینده نیز ادامه خواهد داشت.

ناگفته نباید گذاشت که این ورکشاپ آموزشی که بتاریخ ۲۴ و ۲۵ ماه جدی سالروان تدویر یافته بود، در آن به تعداد ۷ تن آموزگار مؤسسه یاد شده اشتراک ورزیده بودند.

## د سوداګرو او پانګه‌والو لپاره د پورونو په ورکړه کې د آسانتیاوو رامنځته کېدل



کابل، د ۱۳۹۸ د مرغومي ۴ مه – د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستيال ښاغلي واحدالله نوشېر د (عالي دي، افغاني دي) کورنيو توليداتو په کنفرانس او ملي ننداراتون کې ګډون وکړ.

د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستيال ښاغلي واحدالله نوشېر د ياد کنفرانس او ملي ننداراتون له په لاره اچوونکو څخه مننه وکړه او دا يې د کورنيو توليداتو د پېر او پلور په برخه کې ډېر ګټور ياد کړ.

د افغانستان بانک سرپرست د خپلو خبرو په ترڅ سوداګرو او پانګه‌والو ته د بانکونو له لوري د پورونو په ورکړه کې د آسانتياو له رامنځته کولو يادونه وکړه او ژمنه يې وکړه چې د خصوصي سکتور د پياوړتيا لپاره به لازياتې آسانتياوې رامنځته کړي.

بايد ووېل شي چې د افغانستان بانک له لوري سوداګرو او پانګه‌والو ته د پورونو په ورکړه کې د آسانتياوو رامنځته کول د سوداګرو او پانګه‌والو له هرکلي سره مخ شو او هيله يې وښوده چې په دې برخه کې به لا زياتې آسانتياوې رامنځته شي، څو پرمټ يې په هېواد کې سوداګري وده وکړي او پانګه وال وکولای شي چې په ډاډه زړه په کور دننه پانګې‌اچونې وکړي.

## د افغانستان بانک په مشرۍ د سارک فايننس رياست په بريالۍ توګه پای ته ورسېد




د افغانستان بانک په رياست د سارک فايننس څلور غونډې په بريالیتوب سره پای ته ورسېدې.

د سارک فايننس شبکه چې د سارک سازمان غړو هېوادونو له لوري په ۱۹۹۸ زېږديز کال کې رامنځته شوې ده، د دې شبکې د رياست چارې په ۲۰۱۸ زېږديز کال د افغانستان بانک ته سپارل شوې وې او په بريالۍ توګه يې چارې بشپړې کړې.

د يادونې وړ ده چې د افغانستان بانک وکولای شول چې د سارک سازمان له غړو هېوادونو سره د دې هېوادونو د مالي څارنې د همغږۍ، د مالي ګډون د ډېرښت، د بنسټونو د ملاتړ او د حوالو د يو منظم سيستم د رامنځته کولو په اړه څېړنې وکړي او دا بانک و توانېد چې د خپلو کارکوونکو د وړتياوو د لوړولو لپاره د سارک سازمان غړو هېوادونو مرستې هم ترلاسه کړي.

بايد ووېل شي چې د سارک فايننس شبکې د رياست په مهال د افغانستان بانک په دې هم وتوانېد چې د سارک سازمان غړو هېوادونو د اقتصادي راپورونو د راټولولو لپاره يو ګډ ډېټابېس رامنځته کړي چې له دې لارې به د يادو هېوادونو د اقتصادي چارو راپورونه خپرېږي.

ياده دې وي چې د افغانستان بانک په مشرۍ د دې شبکې وروستی سيمينار په اسلام آباد کې جوړ شوی وو چې د روانې زېږدېزې مياشتې له ۱۸ – ۲۰ مې نېټې يې دوام وکړ او د ياد سازمان د غړو هېوادونو د اقتصادي فعاليتونو په اړه په کې بحث وشو.




## اساسي قانون زمونږ ملي او معتبره وثیقه ده

د ۱۳۹۸ کال د مرغومي څوارلســـمه چې په هېواد کې د اساســـي قـــانون د تصویب له شپاړلسمې کلیزې سره برابـره ده، مبــارکي وایو.

د هېواد د اساسي قانون د دولسـمې مادې پر بنسټ؛ د افغانســـتان بـــانک د هېواد مرکزي بانک دی او دا بانک د خپلو فعالیتونو په تر سره کولو او سیاست جوړونه کې خپلواک دی.

د هېواد له اساســـي قـــانون څخه پیروي د هر افغان ملي دنده ده.

## قانون اساسی وثیقه معتبر ملی ما است

چهاردهم جدی سال ۱۳۹۸ هجری شمسی مصادف بـه شـانزدهمین ســالروز تصویب قـانون اساسـی کشـور می باشــد که آنرا گرامی میداریم.

طبق مادۀ دوازدهم قانون اساسـی کشـور؛ د افغانستان بانک، بانک مرکزی کشور است و در اجـرای فعالیـت هــای اش در امــر سیاست گذاری مستقل می باشد.

پیروی از احــکام قــانون اساســی جمهوری اســلامی افغانســتان وجیبــه ملی هر افغان است.




# مختصری بر فعالیت های اطلاعاتی د افغانستان بانک طی سال مالی ۱۳۹۸

دسترسی به اطلاعات از عملکرد ادارات جمهوری اسلامی افغانستان حق هر شهروند کشور است. د افغانستان بانک با توجه به این اصل و با در نظرداشت شفافیت و حسابدهی که یکی از ارزش های محوری اش را تشکیل میدهد، همواره در نشر و انعکاس اطلاعات دقیق، مؤثر و به موقع اقدام نموده و مردم را از عملکرد د افغانستان بانک و در کُل نظام مالی و بانکی کشور در آگاهی قرار داده است. پلان ارتباطات و آگاهی عامه د افغانستان بانک برای سال مالی ۱۳۹۸ بر چهار محور ستراتیژیک مندرج پلان ستراتیژیک چهار ساله بانک ( ۱۳۹۶-۱۳۹۹) هر یک " تقویت اعتبار پالیسی ها جهت افزایش باورمندی مردم به سیاست های بانک، تحکیم و تنظیم روابط با ارگان ها و مؤسسات ملی و بین المللی بمنظور تشریک معلومات و هماهنگی در طرح پالیسی ها، تشدید تلاش های فرهنگ سازانه و ترغیب مردم به استفاده از افغانی و ارتقای سواد مالی مردم" تهیه و به منصه اجراء گذاشته شد که مختصر آنرا با تفکیک بخش های مربوطه از قرار شرح ذیل می نگاریم:

**تقویت اعتباری پالیسی ها جهت افزایش باورمندی مردم به سیاست های بانک:**

راه اندازی ورکشاپ آموزشی در رابطه به اهداف و سیاست های کُلی د افغانستان بانک برای ۶۰ تن گزارشگر بخش های اقتصادی رسانه های جمعی کشور در تالار کنفرانس های د افغانستان بانک آغازگر برنامه های آگاهی دهی بانک بمنظور تقویت اعتبار پالیسی ها و افزایش باورمندی مردم به عملکرد د افغانستان بانک بود.

»

د افغانستان بانک در ادامه، این برنامه ها را به سطح پوهنتون های کشور چه در مرکز و ولایات نیز گسترش داد که در نتیجه چهار پوهنتون در مرکز و حد اقل شش پوهنتون دیگر در ولایات تحت پوشش این برنامه ها قرار گرفت.

تعداد محصلین اشتراک کننده در هر برنامه به پنجاه (۵۰) تن میرسید که در مجموع حدود پنجصد تن محصل از این برنامه های آموزشی مستفید گردیده اند.

راه اندازی حد اقل ده مورد کنفرانس مطبوعاتی پیرامون اجرااات، دستاوردها و فیصله های هیئت محترم رهبری در قبال نظام مالی و بانکی کشور جزوی دیگر از فعالیت های اطلاعاتی د افغانستان بانک است که طی سال مالی ۱۳۹۸ انجام یافته است.

این بانک بمنظور آگاهی صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی برنامه های مشخص آموزشی را در سطح مرکز و ولایات راه اندازی نمود که میتوان از راه اندازی ورکشاپ های آموزشی و نشست های حضوری به ولایات خوست، هرات و کابل نام برد.

د افغانستان بانک بمنظور آشنایی مردم از سیستم های ثبت اعتبارات عامه و ثبت حقوق رهنی بر اموال منقول نیز برنامه های آگاهی دهی را برای نمایندگان بانک های تجارتی، اتاق تجارت و صنایع، اتحادیه های صنفی و تجار راه اندازی نموده که این برنامه ها هم در کابل و هم درولایات کندهار، ننگرهار، هرات، مزار شریف و بامیان صورت گرفته است.

د افغانستان بانک طی سال مالی ۱۳۹۸ در کنار موارد تذکر رفته بالا، در بخش استفاده از ابزارهای چاپی نیز فعالیت های مؤثری انجام داده است که میتوان از تهیه و چاپ راپور سالانه عملکرد و دستاوردهای د افغانستان بانک طی سال مالی ۱۳۹۷ در نسخه های دری، پشتو و انگلیسی یادآوری نمود. تهیه و نشر بولتن های ربعوار و سالانه سال مالی ۱۳۹۷ در نسخه های دری، پشتو و انگلیسی و تهیه و چاپ ۱۲ شماره ماهنامه بانک حاوی گزارش ها از فعالیت های بانک و عملکرد نظام مالی و بانکی کشور، مقاله های تحلیلی و تحقیقی و بدسترس قرار دادن آن به شرکای ذینفع از سیاست های بانک از موارد دیگریست که طی این مدت تهیه و بدسترس شرکای ذینفع از سیاست های بانک و سایر علاقمندان نظام بانکی قرار گرفته است.

د افغانستان بانک طی سال مالی ۱۳۹۸ از شبکه های اجتماعی بانک ( فیسبوک، تویتر، یوتیوب و سایت بانک) استفاده خوبی ابزاری نموده و با استفاده از آن گزارش ها و رویدادهای مهم د افغانستان بانک مثل پروسه حریق بانکنوت های مندرس، نشست های خبری هیئت رهبری، برگزاری ورکشاپ ها، سیمینارها و سایر محافل رسمی بانک را تحت پوشش خبری به زبان های دری و پشتو قرار داده و همزمان با آن در جهت تقویت اعتبار پالیسی های بانک، اطلاعیه ها و پیام های کتبی و تصویری را تهیه و ازین طریق بدسترس مردم قرار داده است.

**تحکیم و تنظیم روابط با ارگان‌ها و مؤسسات داخلی و بین‌المللی در زمینه تشریک معلومات و هماهنگی در طرح پالیسی‌ها:**

د افغانستان بانک تحت این اصل برنامه های متعددی گفتمان، کنفرانس و نشست های دوجانبه و چند جانبه ای را انجام داده که میتوان از راه اندازی دو گفتمان با اساتید از جامعه اکادمیک در زمینه تطبیق سیاست پولی بطور مشخص موضوع مبادله افغانی در مقابل سایر ارزها و چگونگی نظارت از عملکرد سکتور بانکی نام برد.

راه اندازی نخستین کنفرانس ملی در زمینه گسترش فعالیت های

بانکداری اسلامی فرصت ها و چالش ها مورد دیگریست که د افغانستان بانک طی سال مالی ۱۳۹۸ به آن مبادرت ورزیده است.

**تشدید تلاش های فرهنگ سازانه برای ترویج هر چه بیشتر استفاده از افغانی در معاملات پولی:**

د افغانستان بانک تحت اصل تشدید تلاش های فرهنگ سازانه و ترغیب مردم به استفاده افغانی در خرید و فروش و داد و ستد های داخلی طی سال مالی ۱۳۹۸ برنامه های متعدد را در بخش های هزینه ای و غیر هزینه ای طرح و به منصه اجراء گذاشت.

راه اندازی کمپاین های ترویج پول ملی در زون های مورد نظر که استفاده از پول های بیگانه گان در آن صورت می گرفت. این کمپاین ها از طریق دیدارهای حضوری با مقامات ولایتی، شورا های ولایتی و متنفذین محل صورت گرفته و طی آن اقدام های عملی انجام شد که هموطنان عزیز بهتر در جریان قرار دارند.

نشر کلیپ های تصویری و صوتی از طریق تلویزیون و رادیوهای محلی برنامه دیگریست که طی سال مالی ۱۳۹۸ حداقل از طریق ۲۲ کانال تلویزیونی و ۲۳ چینل رادیویی ولایات مورد نظر صورت گرفته است.

د افغانستان بانک با توجه به اهمیت مکاتب در سمت و سو دادن افکار نوجوانان و آینده سازان کشور، حوزه تعلیمی را نیز هدف قرار داده و پول ملی را منحیث یکی از ارزش های ملی با برگزاری برنامه های مشخص توضیحی برای شاگردان و معلمین مکاتب شهر کابل و ولایات گسترش داده است. در این راستا برای تشویق هر چه بیشتر شاگردان و اداره مکاتب مواد تبلیغاتی حوزه تعلیمی شامل تهیه بکس مکتب، قلم، کتابچه، رساله های آموزشی، جدول ضرب زبانی، نقشه افغانستان، گیلاس و ساعت دیواری حاوی پیام ترویج پول ملی نیز تهیه و حین بازدید از مکاتب به شاگردان و اداره مکتب توزیع شد.

باید یادآور شد که در این پروسه حدود ۱۶۷ مکتب در مرکز و ولایات تحت پوشش قرار داده شد.

همچنان طی پروسه تبلیغات حدود ۱۶۰ تخته بلبورد های ترویج پول افغانی در نقاط مختلف مرکز، ولایات و شاهراه ها به منظور تنویر اذهان عامه جهت استفاده از افغانی در داد و ستد پولی نصب گردیده است.

د افغانستان بانک در زمینه ارتقای سواد مالی مردم نیز فعالیت های مؤثر آگاهی دهی را راه انداخته است که میتوان از تهیه، چاپ و نشر کتاب مفاهیم مالی و بانکی، تهیه و چاپ رساله پس انداز، تبلیغ محصولات نظام بانکی از طریق مکاتب در مرکز و ولایات، تهیه و نشر پیام های کوتاه کتبی و تصویری از طریق مجله د افغانستان بانک، سایت و شبکه های اجتماعی نام برد.

در عین حال، راه اندازی ورکشاپ سه روزه آموزشی در رابطه به اصول و مقرره حمایت از حقوق مشتریان سکتور مالی، برای کارمندان بانک های تجارتی و مؤسسات پول الکترونیک، ورکشاپ آموزشی در زمینه اصول، مفاهیم و مقرره حمایت از حقوق مشتریان سکتور مالی برای کارمندان بانک بین المللی افغانستان، ورکشاپ سه روزه برای ترینر های وزارت احیا و انکشاف دهات و راه اندازی ورکشاپ آموزشی دانش مالی و حمایت از حقوق مشتریان سکتور مالی برای کارمندان ریاست بیمه ها از فعالیت و دستاوردهای دیگر د افغانستان بانک در زمینه ارتقای سواد مالی مردم است که طی سال مالی ۱۳۹۸ به آن نایل گردیده است.

# خبرتیا

## ګرانو هېوادوالو!

د خپلو مالي معاملو د خونديتوب او د صرافۍ او پولي خدمتونو د کارونې پر مهال د قـــوانينو او مقـــرراتو د ښه پلي کيدو په موخه د صرافۍ او د پولي خدمتونو جواز لرونکو او منع شـويو کړنو ته چې لاندې ترې يادونه شـوې ده، پاملرنه وکړئ او هغه ترسـره کړئ، څو په مالي معاملو کې د خونديتوب ترڅنګ مو خپل قانوني او حقوقي مسئوليت هم اداء کړی وي.

## د صرافۍ جواز لرونکي کړنې

- د اسعارو پېر او پلور (د اسعارو مبادله)
- د اسعارو د مخکې پېر د قراردادونو له لارې د معاملو ترسره کول

## د صرافۍ منع شوي کړنې

- له صرافانو سـره د امانتونو اېښودل: صرافان نشي کولای چې له پېرودونکو څخه پيسې د امانت په توګه ترلاسـه او يا وساتي؛
- صرافان نه شي کولای چې کسبګرو، سوداګرو او داسې نورو اشخاصو ته د پور خدمتونه وړاندې کړي؛
- صرافان نشي کولای چې په داخل او يا له هېواد څخه بهر حوالې ترسره کړي او يا برعکس د حوالې پيسې اجراء کړي.

## د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو جواز لرونکې کړنې

- د پيسو لېږد؛
- په نغدو پيسو د چک تبادله؛
- د اسعارو مبادله او يا د صرافۍ نورې جواز لرونکې کړنې؛

## د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو منع شوې کړنې

- د امانتونو منل (قبلول): د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي نشي کولای چې له مشـــتريانو څخه امانتونه ترلاسه او وساتي؛
- د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي نشي کولای چې کسبګرو او سوداګرو ته د پور خدمتونه وړاندې کړي.

# ورزش و ورزشکار را گرامی میداریم




کابل، ۱۵ جدی ۱۳۹۸ - د افغانستان بانک از دو تن ورزشکار نامور مبارزات آزاد هنرهای رزمی «فری فایت» کشور که در این اواخر در مسابقات مبارزات آزاد هنرهای رزمی خوب درخشیده بودند، تقدیر و تمجید بعمل آورد.

در محفلی که به همین مناسبت در تالار کنفرانس‌های د افغانستان بانک برگزار شده بود محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک به حسین بخش صفری و سمیع الله فیضی این موفقیت را مبارکباد گفت و آنها را افتخار آوران کشور و قهرمانان خطاب نمود. وی افزود که د افغانستان بانک متعهد است تا از ورزش و ورزشکاران کشور حمایت نماید.

سپس ورزشکاران مبارزات آزاد هنرهای رزمی محترم حسین بخش صفری و محترم سمیع الله فیضي صحبت نموده و از رهبری د افغانستان بانک بخاطر تشویق ورزشکاران تشکری نمودند.

آنها در پیامهای خود از مردم خواستند تا در پروسه ترویج پول افغانی سهم فعال گیرند و در داد و ستدهای خود از پول افغانی استفاده نمایند.





باید گفت که د افغانستان بانک به پاس خدمات، افتخارات و دستاوردهای ورزشی به هر یک از این ورزشکاران تشکرنامه و تندیس مزین با پول افغانی تفویض نمود.

# د شمال زون د آمریت لپاره نوې ودانۍ جوړېږي





بلخ، د ۱۳۹۸ کال د مرغومي ۱۰ مه – د افغانستان بانک د شمال زون د عمومي آمریت د نوې ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

په هغه مراسمو کې چې په همدې مناسبت جوړ شوي وو، د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي د افغانستان بانک د پرمختیایي پروژو په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې پر خپلو بانکي خدمتونو سربېره د هېوادوالو او د دې بانک د کارکوونکو لپاره په بېلابېلو برخو کې لا زیاتې آسانتیاوې رامنځته کړي.

د نوموړي په خبره دا ودانۍ په څلورو پوړونو کې په اساسي ډول جوړېږي چې د نني عصر له ټولو آسانتیاوو به برخمنه وي.

باید وویل شي چې د افغانستان بانک د شمال زون د آمریت د نوې ودانۍ د بنسټ ډبره د افغانستان بانک د دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي له لوري چې د بلخ ولایت مرستیال، د دې ولایت د ولایتي شورا رئیس، د حج او اوقافو ریاست رئیس، د افغانستان بانک د شمال زون سرپرست آمر او د یو شمېر نورو ادارو استازو یې ملتیا کوله کېښودل شوه.

ورپسې د افغانستان بانک دویم مرستیال د بلخ له والي ښاغلي محمد اسحق رهګذر سره ولیدل او په دې ولایت کې یې د افغانستان بانک د شمال زون آمریت لپاره د نوې جوړېدونکې ودانۍ په اړه معلومات له نوموړي سره شریک کړل.

د بلخ والي له د افغانستان بانک سره د دې ودانۍ د جوړېدو په برخه کې د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه او مننه یې وکړه چې یاد بانک په بلخ ولایت کې د اساسي ودانیو د جوړولو په برخه کې کار کوي او د دې ولایت اوسېدونکو ته آسانتیاوې رامنځته کوي.

# په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د افغانیو د دودولو هڅې وستایل شوې



کابل، ۱۳۹۸ مرغومې ۲۸ مه– د افغانستان بانک د هېواد د حرفوي سوک وهنې د دوو تنو لوبغاړو او د شپږېزې کرکټ سیالیو پر مهال په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د افغانیو د دودولو په برخه کې د افغانستان د کرکټ بورډ اداري د وياند هڅې وستایلې.

په هغې غونډه کې چې په همدې مناسبت د افغانستان بانک د عالي شورا په تالار کې جوړه شوې وه، د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د افغانیو دې د دودولو او کارولو په ارزښت خبرې وکړې.

ښاغلي نوشېر په دې برخه کې د حرفوي سوک وهنې د دوو تنو نامتو لوبغاړو هر یو ښاغلي سهیل احمد مغلزي او ښاغلي زمري محمدي او همدارنګه د کرکټ بورډ اداري د وياند ښاغلي محمد فرید هوتک هڅې وستایلې.

د یادونې وړ ده چې یادو لوبغاړو هم په دې اړه په خپل نوبت سره خبرې وکړې او په ترڅ کې یې د افغانیو د دودولو په برخه کې د افغانستان بانک د هڅو ستاینه وکړه او له خلکو یې وغوښتل چې په سوداګریزو راکړو ورکړو کې له افغانیو کار واخلي او د پردیو اسعارو له کارولو په کلکه ډډه وکړي.

پاتې دې نه وي چې د افغانستان د کرکټ بورډ اداري وياند د شپږېزې سیالیو په لړ کې د سوداګریزو راکړو ورکړو په مهال د افغانیو د دودولو په منځو ترړو کې پراخې هڅې کړې وې.

باید ووېل شي چې د افغانستان بانک د دغو لوبغاړو او کرکټ بورډ اداري د وياند د خدمتونو، وياړونو او ورزشي لاسته راوړنو په پام کې نیولو سره یادو کسانو ته ستاینلیکونه او په افغاني ښکلې شوي تندیسونه هم ډالۍ کړل.

# سیمینار ثبت و بررسی دارایی‌ها با حضور کارمندان عالی رتبه د افغانستان بانک دایر گردید



کابل، ۲۹ جدی ۱۳۹۸ – سیمینار ثبت و بررسی دارایی‌ها از طرف اداره ثبت و بررسی دارایی‌های ریاست عمومی اداره امور ریاست جمهوری برای کارمندان عالی رتبه د افغانستان بانک دایر گردید.

در مراسم افتتاح این سیمینار محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم د افغانستان بانک پیرامون ثبت و بررسی دارایی‌ها صحبت نموده، افزود که شریک ساختن معلومات در این زمینه در ایجاد شفافیت و حسابدهی که یکی از ارزش‌های محوری بانک را تشکیل میدهد از اهمیت بالای برخوردار است.

معاون دوم د افغانستان بانک ثبت و بررسی دارایی‌هارا در مبارزه با فساد اداری و ایجاد شفافیت با ارزش خواند و از کارمندان د افغانستان بانک خواست تا در زمان تعیین شده فورمه های ثبت دارایی‌های خویش را به اداره مربوطه بسپارند.

سپس محترم عبدالصبور حبیب، آمر نشر و آگاهی عامه اداره ثبت و بررسی دارایی‌هادر این بخش از همکاری های همه جانبه د افغانستان بانک تشکری کرد و در مورد چگونگی ثبت و بررسی دارایی‌ها صحبت نمود.

وی از مسئولین د افغانستان بانک خواست تا برای مبارزه با فساد اداری و نهادینه شدن اصلاحات تلاش نمایند و در مورد با اداره ثبت و بررسی دارایی‌ها مثل همیشه همکار باشند.

قابل یاد دهانی میباشد که در این سیمینار در مورد ثبت و بررسی دارایی‌ها از طرف مسئولین اداره ثبت و بررسی دارایی هااز طریق ارائه پریزینتیشن توضیحات همه جانبه ارائه گردید و به سوالات اشتراک کنندگان جواب داده شد.

# اقتصادي خبرونه

**د هوايي دهليزونو له لارې د افغانستان په صادراتو کې ۳۳ سلنه زياتوالی**

د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي چې افغانستان په ۲۰۱۹ کال کې د هوايي دهليزونو له لارې بهرنيو هېوادونو ته شاوخوا ۵ زره او ۳۰۰ ټنه سوداګريز توکي صادر کړي دي.

د دغه وزارت وياند سمير رسا امريکا غږ ته وويل چې په ۲۰۱۹ کال کې د هوايي دهليزونو له لارې د افغانستان صادرات د اوړم کال په پرتله ۳۳ سلنه زيات شوي دي.

هغه زياته کړه: "په ۲۰۱۹ ميلادي کال کې، په ۸۵۵ پروازونو کې شاوخوا ۵۳۰۰ ټنه سوداګريز توکي هند، چين، سعودي، متحده عربي امارات، آلمان، برتانيه، ايټاليا، آذربايجان، فرانسه، بلجيم، قطر، عُمان، کويت، ترکيې، رومانيا، سويډن، سويس او هالند ته صادر شوي دي."

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو په اساس، د آذربايجان، کويت، عمُان او قطر مارکيټونه په ۲۰۱۹ کال کې د هوايي دهليزونو له لارې د افغان سوداګرو پر مخ پرانيستل شول.

د چارواکو په وينا رسا پر وينا تاکل شوي چې په نږدې راتلونکې کې افغانستان له اندونيزيا سره هم هوايي دهليز پرانيزي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي، د افغان سوداګرو د غوښتنې پر اساس دوی چمتو دي، چې له نورو هېوادونو سره هم هوايي دهليزونه پرانيزي.

افغانستان د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۷ کال کې له هند سره هوايي دهليز پرانيست او له هغې وروسته يې دا لړۍ يو شمېر عربي او اروپايي هېوادونو ته هم وغځوله.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د شمېرو له مخې له ۲۰۱۷ کال څخه تر اوسه افغانستان، څه باندې ۱۱زره ټُنه سوداګريز توکي، چې په کې وچې او تازه ميوې، طبي بوټي، لاسي صنايع، غالۍ، اينجه، زعفران او ځرمن شامل دي، په شاوخوا ۱۱۰۰ پروازونو کې بهر ته صادر کړي دي.

د دغو سوداګريزو توکو مجموعي ارزښت څه باندې ۲۳۸ ميليون ډالرو ته رسېږي.

د دغه وزارت د معلوماتو په اساس، افغانستان په ۲۰۱۹ کال کې يو ميليارد ډالره صادرات درلودل، چې دا شمېره په تېرو دوو لسيزو کې د افغانستان د صادراتو تر ټولو لوړه کچه بنيي.

**بانک جهانی: درجه رشد اقتصادی جهان در سال جاری کندتر خواهد بود**

بانک جهانی با در نظرداشت تأثير جنگ تجارتی بين امريکا و چين بر اقتصاد جهان پيش‌بينی کرده که درجه رشد اقتصادی جهان در سال جاری کند تر خواهد بود.

در گزارش دورنمای اقتصادی جهان که در مورد ۱۸۹ کشور جهان توسط اين مؤسسه مالی جهانی ديروز به نشر رسيد گفته می‌شود که در سال جاری رشد اقتصادی جهان دو و نيم درصد خواهد بود که در مقايسه با سال گذشته که رشد اقتصادی جهانی در آن ۲.۴ درصد بود، کمی بهبود را نشان می‌دهد.

در ماه جون سال ۲۰۱۹ رشد

»

اقتصادی ۲.۶ درصد بود و در همین ماه در سال ۲۰۲۰، ۲.۷ درصد پیش‌بینی شده‌است.

بانک جهانی که مرکز آن در واشنگتن است می گوید در بحران مالی یک دههٔ گذشته، سال ۲۰۱۹ سالی بود که رشد اقتصادی در آن بسیار ضعیف بود، اما گفته شده است که حالت مبهم بحران‌های تجارتی و جیوپولیتیکی می‌تواند رشد نسبی اقتصادی سال جاری را هم بطی بسازد.

## افغانستان او تاجکستان د اوسپنې پټلۍ له لارې نښلول کیږي

**د افغانستان د ټرانسپورټ وزارت وايي چې دغه وزارت، تاجکستان سره د اوسپنې پټلۍ د جوړولو هوکړه ليک لاسليک کړی.**

د دغه وزارت چارواکي وايي چې دغه هوکړه ليک پرون شنبه د جنورۍ ۴ د دواړو هېوادونو د چارواکو ترمنځ د تاجکستان په پلازمېنې دوشنبې کې لاسليک شوی او اوس مهال د دغې اوسپنې پټلۍ د جوړولو لپاره تخنيکي ارزونې پيل شوې دي.

د ټرانسپورټ وزارت وياند علي سينا سائد وويل: دغه پټلۍ به د افغانستان مولانا جلال الدين محمد بلخي اصلي اوسپنې پټلۍ ( کلخوز آباد) د شېرخان بندر له لارې د تاجکستان ( پنج پايان) سيمې سره ونښلوي.

ښاغلي سائد وويل د دې پټلۍ اوږدوالی تر اوسه نه دی په ډاګه شوی او مالي لګښت به يې د ارزونو وروسته ښکاره شي.

دا په داسې حال کې ده چې تېره مياشت د افغانستان حکومت د هرات- خواف د اوسپنې پټلۍ د لومړۍ برخې د ډيزاين او جوړولو هوکړه ليک هم د يوه قزاقستاني شرکت سره لاسليک کړ.

دغه پروژه چې د ۴۳ کيلو مترو په اوږدو کې اوسپنې پټلۍ جوړول دي نږدې ۹۸ ميليونه امريکايي ډالر لګښت پرې راځي چې د افغانستان ملي بوديجې نه يې ملاتړ کيږي.

د چارواکو په وينا دغه پټلۍ به افغانستان د ايران د اوسپنې پټلۍ شبکې سره ونښلوي.

له دې مخکې افغانستان د منځنې آسيا له لارې د چين سره هم د اوسپنې پټلۍ له لارې نښلول شوی دی.

د افغانستان د ټولګټو وزارت (فوايد عامه) ويلي چې تر ۲۰۳۰ زېږديز کال پورې به افغانستان کې پينځه زره کيلو متره د اوسپنې پټلۍ وغزول شي.●


سرچينې:

۱- https://www.pashtovoa.com/a/thirty-three-percent-increase-in-afghan-export-through-air-corridors/5235125.html

نېټه او ليکنه: مرغومی ۱۷، ۱۳۹۸، ممتاز بهير

۲- https://da.azadiradio.com/a/30367834.html

تاريخ نشر:۱۹ جدی ۱۳۹۸

۳- https://www.pashtovoa.com/a/afghanistan-and-tajkistan-railway/5232599.html

نېټه او ليکنه: مرغومی ۱۵، ۱۳۹۸، سيد زيارمل هاشمي

# د لږو عاید لرونکو کورنیو لپاره د سپما غوره لارې چارې

هغه کسان چې کم عاید لري، دوی فکر کوي چې له خپل دې کم عاید څخه سپما نه شي کولای او په راتلونکې کې به له یو شمېر مالي ستونزو سره لاس او ګریوان وي، خو په اصل کې خبره داسې نه ده.

هغه کسان چې کم عاید هم ولري که خپلې مالي چارې په ښه ډول مدیریت کړي، کولای شي یوه اندازه سپما وکړي او په راتلونکې کې د یوې ښې او بدې لپاره دومره پیسې ولري چې خپلې مالي چارې پرې مدیریت کړي.

دا چې څنګه کولای شو له کم عاید څخه سپما وکړو په لاندې ډول یې لارې چارې په ګوته کوو:

**د هستوګنځي لګښتونه مو را کم کړئ**

که تاسو په داسې یو کرایي کور کې ژوند کوئ چې هره میاشت د کرایې ترڅنګ د برېښنا، ټلیفون، ګاز او نورو زیات بېلونه پرې کوئ، نو هڅه وکړئ داسې یو ځای د اوسېدو لپاره غوره کړئ چې هلته مو دا لګښتونه راکم شي. معنی دا چې تاسو کولای شئ د ښار په یوه بله سیمه کې چې هلته د کورونو کرایه کمه وي کور ونیسي او هلته ژوند وکړئ.



په دې سره به مو د تېر په پرتله په لګښتونو کې کموالی راشي او د لګښتونو د کموالي دا کچه به مو د سپما په برخه کې ور زیاته شي.

**په هټیو کې د توکو له رانیولو وروسته مو ماتې پیسې بېرته واخلئ**

ډېری کسان به مو لیدلي وي چې په هټیو او نورو سوداګریزو ځایونو کې د توکو له اخیستلو وروسته خپلې ماتې پیسې (یو ګون، دوه ګون ...) هټیوالو ته وربخښي او په خپله مخه ځي، خو تاسو داسې مه کوئ دا پیسې واخلئ او د سپما په حساب کې یې ور زیاتې کړئ.

د میاشتې په پای کې به تاسو وګورئ چې تاسو د همدې وړو (ماتو) پیسو څومره »

زېرمه رامنځته کړې ده.

په دري ژبه کې یو متل لرو چې وايي: قطره قطره دریا میشود!

**پېرل مو پلان کړئ!**

هېڅکله بې پلانه پېر مه کوئ. د هرې میاشتې په پیل کې د هغو څيزونو نوملړ او لیست له ځان سره ولرئ، د لېست شویو توکو اټکلیزې بیې هم له ځان سره ولیکئ او معلوم کړئ چې په دې میاشت کې څومره لګښتونه لرئ.

که مو دا چاره ترسره کړه هېڅکله به هغه څيزونه و نه پېرئ چې په پلان کې مو شامل نه وي، دا په دې مانا چې تاسو خپلې مالي چارې په ښه ډول مدیریت کوئ او د سپما لپاره ټاکل شویو موخو ته مو ځان رسوئ.

**کارول شوي یا دویم لاس توکي وپېرئ**

کارول شوي یا دویم لاس توکي په ډېره ټیټه بیه پیدا کېږي. تاسو به لیدلي وي چې د یو نوي توکي اصلي بیه دوه یا درې زره افغانۍ وي، خو که همدا توکي په لیلام کې وګورئ په بیه کولو سره به یې حیران پاتې شئ او زړه به مو وغواړي چې د یو توکي پر ځای څو توکي را ونیسئ.

په یاد ولرئ چې په لیلام کې ډېری وخت داسې توکي موندل کېږي چې بیخي نوي وي، خو د دې توکي مالک او یا هم د جوړونکي توکي اړوندې کمپنۍ د خپل نوي ماډل له کبله هغه لیلام ته وړدي او یوازې په تمام شوي بیه یې پلوري. هېڅ ځنډ مه کوئ، دا ډول توکي تر کتلو وروسته واخلئ او په دې وسیله د سپما کولو لپاره زمینه برابره کړئ.

**د کور توکي مو ټول په یو ځای پېرئ**

د هرې میاشتې په سر کې مو د کور لپاره ټول خوراکي او غیر خوراکي توکي په یو ځل را ونیسئ. دا چاره به مو هره ورځ بازار ته له تګ خلاص کړي او د موټر د تېلو هغه لګښت به تاسو ته پاتې شي چې د دې توکو د رانیولو لپاره یې هره ورځ لګوئ.

په یاد ولرئ چې د کور لپاره دا توکي مو له عمده پلورنځیو یا منډه‌یي را ونیسئ، ځکه دا پلورنځي نه یوازې دا چې د توکو بیه به یې تاسو ته ارزانه تمامېږي، بلکې تاسو کولای شئ خپل د اړتیا وړ توکي له دوی څخه په ځانګړي کمښت هم ترلاسه کړئ.

**پلی یا هم په بایسکېل وګرځئ**

د دې پر ځای چې بازار ته په خپل موټر یا هم ټکسي کې لاړ شئ، غوره به دا وي چې له بایسکېل ګټه پورته کړئ او یا هم پلي لاړ شئ.

د دې کار اقتصادي ګټه به دا وي چې د موټر په تیلو کې مو سپما کوئ او هم د دې تګ لپاره د ټکسي له کرایې خلاصیږئ. مه هېروئ چې پلي او یا هم په بایسکېل ګرځېدل مو روغتیا ته ګټه هم رسوي.

یو متل دی چې وايي: روغ صورت بادشاهي ده! که غواړې چې هم بادشاه شې؛ هم سپما وکړې، یاده چاره ترسره کړه.

**د عاید نورې لارې ولټوئ**

یوازې په یو عاید بسنه مه کوئ، له نورو لارو هم د عاید پیدا کولو هڅه وکړئ. که مو د عاید نورې لارې هم پیدا کړې، نه یوازې دا چې سپما به مو کړې وي، بلکې له رواني لحاظه به هم آرامتیا ترلاسه کړئ او د یوې دندې په له لاسه ورکولو سره به له ستونزو سره نه مخ کېږئ.

**رستورانتونو ته له تګ څخه ډډه وکړئ**

څېړنې ښيي کوم لګښت چې په کورونو کې د خوراکي توکو په تیارولو راځي په

»

رستورانتونو کې يې د لګښت دا کچه ځلور چنده لوړيږي، نو د دې لپاره چې سپما مو کړې وي غوره ده چې رستورانتونو پر ځای ياد خواړه په کورونو کې تيار کړئ.

**د خوراک لپاره مو پلان جوړ کړئ**

د خوراک لپاره د پلان شتون له تاسو سره دا مرسته کوي چې هره ورځ د خوړو د تيارولو لپاره تر بازاره لاړ نه شئ او په کور دننه د خپل پلان اړوند توکي برابر کړئ. هره ورځ تر بازاره تګ او راتګ پر تاسو باندې لګښت راولي او نه تګ مو له دې لګښت څخه خلاصوي.

**د ټلويزيون کېبل مو قطع کړئ**

په ننني عصر کې نږدې ټول ټلويزيوني چينلونه د ټلويزيون په عادي آنتنونو کې د لاسرسي وړ دي. که غواړئ چې په دې برخه کې سپما وکړئ، غوره ده چې د ټلويزيون کېبل مو قطع کړی او ټلويزيوني شبکې په عادي آنتنونو چې هيڅ لګښت ته اړتيا نه لري وګورئ. که دا چاره تر سره کړئ او ياد کېبل قطع کړئ په مياشتني ډول به له يو داسې بل څخه ځان خلاص کړئ چې هره مياشت يې بل پرې کوئ، خو ګټه نه ترې پوره ته کوئ.

**تخفيف مرکزونو ته ورشئ**

په ښارونو کې ډېرئ داسې مرکزونه شته چې د خپلو توکو د پلور لپاره غوره تخفيفونه وړاندې کوي.

که غواړئ چې په لږ لګښت سره ډېر څه ترلاسه کړئ او سپما وکړئ لازمه ده چې دې ډول مرکزونو ته سر ورښکاره کړئ او د اړتيا وړ توکي له همدې مرکزونو ترلاسه کړئ.

**د ثابت تليفون کېبل مو قطع کړئ**

د موبايل په ننني عصر کې نوره اړتيا نه شته چې په کور کې دې ثابت ټيليفون هم موجود وي. همدا نن دا کېبل قطع کړئ او هره مياشت د داسې يو بل له پرې کولو ځان خلاص کړئ چې په درد مو نه خوري.

که مو همداسې وکړل نه يوازې دا چې سپما به مو کړې وي، بلکې هره مياشت به د دې بلونو د تسليمۍ لپاره د تليفون دستګاه تر مرکز او يا بانک پورې له ورتګ هم خلاص شئ.

**د ګازو او برېښنا په لګښت کې مو سپما وکړئ**

نن سبا د نړۍ په هر ګوټ کې د ګازو او برېښنا لګښت د هرې ورځې په تېرېدو سره د زياتوالي په حال کې دی او ډېرئ وګړي د دې لګښتونو له زياتوالي ځورېږي.

که غواړئ چې په راتلونکې کې مو د ځان غم خوړلی وي او له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګريوان نه شئ، غوره ده چې همدا نن مو د ګازو او برېښنا په لګښتونو کې کموالی راولئ او د خپلې روښانه راتلونکې لپاره ګامونه پوره ته کړئ.

**سرچينې:**

ژباړه: حسيب الله نوري


1. Ways To Save Money On A Low Income

   By Jason Cabler on June 19, 2014

   https://www.cfinancialfreedom.com/13-ways-save-money-low-income/

# سپما

سپما د عاید یوې برخې او یا هغه مقدار پیسو ته ویل کیږي چې ستاسو له میاشتنیو عوایدو څخه پاتې کیږي.

سپما؛ د ښوونې او زده کړې، روغتیا، تفریح، لا سو کالي، د خوښۍ او ماتم د ورځو، د تقاعد د دورې او په پایله کې د پانګې اچونې په برخو کې د هر انسان د اړتیاوو د له منځه وړلو لپاره ډېر ارزښت لري.

د دې لپاره چې ښه او سوکاله راتلونکې ولرئ، نو له خپل میاشتني عاید څخه یو اندازه پیسې سپما کړئ. تاسو کولای شئ چې خپلې پیسې په کور او هم د سوداګریزو بانکونو د سپما په حساب کې وساتئ، خو د خپلو پیسو د خوندیتوب او امنیت لپاره ښه ده چې هغه په بانکونو کې سپما کړئ.




**همدا نن په سپما پیل وکړئ، ان که لږ هم وي.**

# د مرکزي بانکونو له لوري د منفي ګټې پالیسی او پر اقتصاد یې اغېزې

د مرکزي بانکونو له خوا د ګټې د نرخ کمې یا زیاتې یو له هغو اړینو پالیسیو بلل کېږي چې د هېوادونو په اقتصادي پیاوړتیا او پانګې اچونې باندې اغېزه لري.

مرکزي بانکونه په هېوادونو کې د پانګو اچونو او د کاروبار د کچې په نظر کې نیولو سره د پور او سپما د ګټې د نرخ کچه سوداګریزو بانکونو ته ټاکي. د ګټې نرخ کله زیات او کله هم کم وي او د ګټې د نرخ په زیاتوالي او یا کموالي کې هر ډول ادلون بدلون د مرکزي بانکونو له صلاحیتونو څخه بلل کېږي. دا ډول پالیسي د هېواد د اقتصادي حالت او پانګې اچونې په نظر کې نیولو سره رامنځته کېږي. د یادونې وړ ده چې په نړۍ کې داسې هېوادونه هم شته چې مرکزي بانکونه یې د ګټې نرخ نه یوازې را ټیټوي، بلکې دغه نرخ منفي کچې ته رسوي او داسې پریکړې د مرکزي بانکونو له خوا په ناوړه اقتصادي حالاتو کې کېږي.

**منفي ګټه څه ده او په کومو حالاتو کې کارول کېږي؟**

د منفي ګټې نرخ کارول له هغو پالیسیو څخه عبارت ده چې مرکزي او سوداګریز بانکونه د پېرودونکو د سپما پر حسابونو باندې ګټه نه ورکوي، بلکې د دې حسابونو څخه په یو ټاکل شوي نرخ پیسې کموي. دا پالیسی د اقتصاد له پلوه په دیفلاسیون (Deflationary Period)یا د پیسو د کموالي په حالاتو کې استعمالېږي.

په دیفلاسیوني حالاتو کې خلک هڅه کوي، ترڅو خپلې پیسې د پانګې اچونې پر ځای په بانکونو کې د سپما په ډول وساتي او له بانکونو څخه ګټه تر لاسه کړي، خو کله چې مرکزي بانک د ګټې نرخ منفي اعلان کړي، نو سوداګریز بانکونه هم خپلو پېرودونکو ته د هغوی د سپما حسابونو څخه ګټه نه ورکوي، بلکې په یو ټاکل شوي نرخ د سپما حسابونو څخه پیسې کموي.

کله چې داسې حالت د مرکزي بانکونو له لوري رامنځته شي، نو خلک نه غواړي چې خپلې پیسې د سپما په حسابونو کې وساتي، بلکې هڅه کوي چې په خپلو اضافه پیسو پانګه اچونه وکړي. کله چې پانګه اچونه رامنځته شي، نو په هېواد کې د کاروبار کچه لوړېږي او د کاروبار د کچې په لوړېدو سره د هېواد اقتصاد پیاوړتیا مومي. په داسې حالاتو کې په ټاکل شوي هېواد کې د خلکو عایداتي کچه لوړېږي او ټاکل شوی هېواد د یو باثباته اقتصادي پیاوړتیا په لور حرکت کوي.

د یادولو وړ ده چې د نړۍ پرمختللي مالي بازارونه کولای شي چې د داسې منفي ګټې له پالیسۍ سره همغږي ولري، خو دا ډول پالیسۍ په وروسته پاتې هېوادونو کې نه شي پلې کېدای.

د بیلګې په توګه، په ۱۹۷۰ زېږدیز کال کې د سویس هېواد مرکزي بانک او نورو سوداګریز بانکونو د منفي ګټې په اعلانولو سره وکولای شول چې د دې هېواد د پیسو د بې ساري کموالي او لوړ ارزښت مخه ونیسي. په همدې ډول په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو کې د سویډن هېواد او په۲۰۱۲ زېږدیز کال کې د ډنمارک هېواد مرکزي بانکونو د منفي ګټې د نرخ په ټاکلو سره و کولای شول، څو د دې هېوادونو اقتصادونو ته د اسعارو ننوتل کم رنګه کړي.

تر ټولو مهمه سناریو یې د منفي ګټې نرخ د جاپان هېواد په اقتصاد کې په کال 2016 کې ډېره ښه بېلګه بلل کېږي. د پیسو د نړیوال صندوق په خبره د 2016 کال د جنورۍ په میاشت کې کله چې د جاپان مرکزي بانک د ګټې نرخ منفي اعلان کړ، د توکیو په مالي مارکیټونو یې منفي اغېزې وکړې. که څه هم هلته د ګټې د نرخ منفي والی یو نوی خبر ؤ، خو د جاپان هېواد بانکونو په بېلابېلو ډولونو وغوښتل، څو د منفي ګټې اغېزې او مالي خطرات کنټرول کړي.

هغه بانکونه چې د منفي ګټې د اعلان څخه زیانمن شوي وو، د پورونو د ورکولو د »

فعالیتونو په زیاتېدو سره یې وغوښتل، ترڅو د منفي ګټې له خطرونو او زیانونو څخه ځان وژغوري. په دې لړ کې هغه واړه سوداګریز بانکونو چې د منفي ګټې د اعلان څخه ډېر زیانمن کېدل وغوښتل چې خپلو پېرودونکو ته د پورونو د کچې په زیاتېدو سره دغه خطر خپلو پېرودونکو ته ولېږدوي او د منفي ګټې له خطر څخه ځان وژغوري.

دا هم باید هېر نه شي چې دا یوازې سوداګریز بانکونه نه وو چې د منفي ګټې د نرخ له اعلانولو وروسته زیامن شول، بلکې نور مالي شرکتونه او په مجموع کې ټول مالي بازار د دې هېواد د منفي ګټې د نرخ له اعلان وروسته زیانمن شول.

د منفي ګټې د نرخ د اعلان څخه یوه ورځ وروسته د جاپان هېواد مالي مارکیټ په بې ساري توګه راټیټ شو، په همدې ورځ د منفي ګټې اعلان د توکیو د سهامو بازار کې کم بدلون رامنځته کړل، خو په دویمه ورځ د توکیو د سهامو د بازار (TOPIX) نږدې ۳ سلنه لوړ شول، خو په دریمه ورځ یعنې د فیبرورۍ په لومړۍنېټه د دغو اسهامو بیې نږدې ۵ سلنه لوړې شوې، د اسعارو بازار په توکیو کې د منفي ګټې له اعلان وروسته منفي تغییرات تجربه کړل.

د جاپاني ین بیې د ډالرو په وړاندې نږدې۲ سلنه ارزښت له لاسه ورکړ، همدارنګه د جاپان حکومت ۱۰کلنو بیه لرونکو اسنادو یا (JGB)په ګټه کې هم منفي تغییرات رامنځته شول.

د دې اسنادو ګټه نږدې نیمایي ته راټیټه شوه.

یو ورځ وروسته د جاپان د مرکزي بانک د منفي ګټې له اعلان وروسته د جاپان په مالي مارکیټونو کې د اوږد مهاله بیه لرونکو اسنادو په ګټه کې نږدې ۰.۰۷ سلنه کمښت راغی.

د یادونې وړ ده چې له مخکیني تحلیل پرته د منفي ګټې اعلانول ناوړه پایلې لري، کوم ګام چې د جاپان هېواد مرکزي بانک د منفي ګټې د نرخ د اعلانولو لپاره اخیستی له زیات تحلیل او ارزونو وروسته پلې شوی دی.

هغه مهال د جاپان هېواد مرکزي بانک د منفي ګټې د نرخ په اعلان سره دوه مهمې موخې ترلاسه کړې. له یوې خوا د منفي ګټې د نرخ له اعلان وروسته د جاپان هېواد په مالي بازار کې د اسهامو نرخ لوړ شو او له بل لوري د اوږد مهاله بیه لرونکو اسنادو ګټه منفي لور ته را ټیټه شوه. په دې معنې هر کله چې د ګټې په نرخ کې ټیټوالی راځي، نو پانګه وال کولای شي په آسانۍ سره په اوږد مهاله بیه لرونکو اسنادو کې پانګه اچونه وکړي.

په همدې ډول هغه مهال چې د ګټې نرخ ټیټ شي، نو سوداګریز بانکونه هم په ټیټ نرخ خلکو ته پور ورکوي چې دا کار د دې لامل کېږي چې خلک په ارزانه بیه له سوداګریز بانکونو څخه پور ترلاسه کړي او پانګه اچونه وکړي، دا چاره په اوږد مهال کې د کاروبار او د اقتصادي پیاوړتیا سبب ګرځي.

پورتنیو بیلګو ته په کتلو سره ویلای شو چې د منفي ګټې د نرخ اعلان یو له هغو غیرعادي پالیسیو څخه ده چې د مرکزي بانکونو له خوا په دیفلاسیون (Deflationary Periods)کې په کار اچول کېږي، څو یو هېواد وکولای شي چې د کاروبار کچه او په مجموع کې د اقتصاد پیاوړتیا (Economic Development)په لنډ مهال کې لاس ته راوړي.●

عبدالغفور سهیل / د بازار د عملیاتو آمریت د پانګې اچونې مدیر

منابع:

۱- د پیسو د نړۍوال صندوق اجرائیوی مقاله How Japanese Banks Reacted to Negative : Interest Rates https://www.imf.org › media › Files › Publications

۲- د منفیګټې نرخ اعلان په اروپا کې-https://www.dw.com/en/why-are-interest-rates-negative-in-europe/a-50567409 :

۳- د منفیګټې د نرخ اعلان په جاپان کې/https://www.japantimes.co.jp/news/2019/08/14/business/negative-rate-policy-work/ :




# بې بدیله کرنیز بوټی په نړیواله توګه د ځلېدو په حال کې

**د افغانستان زعفرانو د نړۍ په زعفرانو کې لومړی مقام خپل کړ.**

د افغانستان زعفران د اتم ځل لپاره د نړۍ تر ټولو غوره او باکیفیته زعفران وپېژندل شو. د زعفران کارانو ټولنې د مسئولینو په خبره د افغانستان زعفران په بلجیم کې د ذایقې د انستیتیوت له ارزونو وروسته د کیفیت له پلوه د ټولې نړۍ په کچه لومړۍ درجه اعلان شو او د نړۍ په زعفرانو کې یې لومړی مقام را خپل کړ.

د افغانستان د زعفرانو د کیفیت د ښه والي لپاره هڅې له تېرو څو کلونو را په دېخوا روانې دي او تمه ده چې په دې برخه کې به لا زیات پرمختګونه رامنځته شي.

د کرنې اوبولګونې او مالدارۍ وزارت د معلوماتو له مخې دا مهال په ټوله نړۍ کې ۴۳۰ ټنه زعفران تولیدېږي چې نږدې ۲۰ ټنه یې د افغانستان زعفران جوړوي. افغانستان له ایران او هند وروسته د زعفرانو لوی تولیدوونکی هېواد ګڼل کېږي او د افغانستان ۹۰ سلنه زعفران بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي.

معلومات ښیي چې دا مهال د افغانستان یو کیلو ګرام زعفران په کورنیو بازارونو کې په ۹۰ زره افغانۍ او له هېواده بهر په ۱۴۰۰ امریکایي ډالرو پلورل کېږي او دغه بوټی په افغانستان کې ورو ورو د کوکنارو د بدیل ځای نیسي.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پربنسټ سږ کال د ټول هېواد په کچه ۲۰ ټنه زعفران تولید شوي چې د تېر کال په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالی ښیي، خو تېر کال د زعفرانو د تولید دا کچه ۱۶ ټنه وه.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت چارواکي اټکل کوي چې سږ کال به د هېواد بزګران له دې لارې تر ۲۷ میلیون ډالرو زیات عاید تر لاسه کړي.

تېر کال د ټول هېواد په کچه په ۶۲۷۲ هکتاره ځمکه کې زعفران کرل شوي وو، خو سږ کال د زعفرانو د کښت دا کچه ۷۵۵۷ هکتاره ځمکې ته رسېدلې ده چې له دې ډلې یوازې په هرات ولایت
»

کې په شاوخوا په ۷ زره هکټاره ځمکه زعفران کرل شوي وو.

هرات، بلخ، فارياب، کندهار، ارزګان، دايکندي او سرپل هغه ولايتونه دي چې تر نورو ولايتونو زيات د زعفرانو کښت په کې کېږي.

تمه ده چې په هېواد کې د دې بوټي په زيات کښت سره به افغانستان د پخوا په پرتله زيات عايد ترلاسه کړي او د بزګرانو په ژوند کې به د مثبت بدلون لامل وګرځي.

زعفران د نړۍ له ټولو ګران بيه ګل دی، چې د روزلو او را ټولولو ټولې چارې يې په لاس ترسره کېږي. زعفران خوراکي توکو ته خوند او رنګورکوي، د انسان د بدن غوړي له منځه وړي، په وينه کې د کلسترول د زياتوالي مخه نيسي او زيات شمېر نورې روغتيايي ګټې له ځان سره لري، د زعفرانو يادې روغتيايي ګټې د دې لامل شوې دي چې اقتصادي ارزښت يې د هرې ورځې په تېرېدو سره زيات شي.

د معلوماتو پربنسټ، زعفران په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په هرات ولايت کې وکرل شول او اوس يې د هېواد په ډېرى ولايتونو کې کرکيله کېږي.

د افغانستان زعفران د لوړ کيفيت لرونکي دي او ځوځله يې د خپل لوړ کيفيت له کبله نړيوالې جايزې هم ګټلې دي.

د يادونې وړ ده چې له دې وړاندې د افغانستان زعفران د ګاونډيو هېوادونو په نومونو بهرنيو هېوادونو ته وړل کېدل او د همغو هېوادونو په نومونو په نړيوالو بازارونو کې پلور ته وړاندې کېدل، خو اوس له نيکه مرغه د افغانستان زعفران د همدغه هېواد په اصلي نوم بهرنيو هېوادونو ته صادرېږي او په بهر کې يې د افغانستان د کرنيزو محصولاتو د غوره کيفيت په برخه کې لوی نوم ګټلی دی.

بايد وويل شي چې بهرنيو هېوادونو ته د نورو هېوادونو په نوم د کرنيزو محصولاتو د صادراتو مخنيوی هغه مهاله راپيل شو چې افغانستان د خپلو کرنيزو محصولاتو د صادراتو لپاره خپلې جغرافيايي نښې د سوداګرۍ په نړيواله اداره کې ثبت کړې.

جغرافيايي نښې د صادراتي توکو هغه نښې دي چې د دغو توکو د توليد له ځانګړو خصوصياتو سره د يوې سيمې د صادراتي محصول ټولې ځانګړنې پکې ثبتېږي.

پاتې دې نه وي چې تر دې مهال د افغانستان زعفرانو، انارو او جلغوزيو جغرافيايي نښې د سوداګرۍ په نړيواله اداره کې ثبت شوې دي او تمه ده چې د وخت په تېرېدو سره به د افغانستان نور لوړ کيفيت لرونکي کرنيز توکي او محصولات هم له يادې ادارې سره ثبت شي او ګاونډي هېوادونه به و نه شي کولای چې د افغانستان کرنيز توکي د خپلو هېوادونو په نومونو بهرنيو هېوادونو ته صادر کړي.●


سرچينې:

۱ – افغاني زعفرانو بيا د نړۍ لومړی مقام خپل کړ

https://www.taand.com/archives/141260

۲ – بلخ کې د زعفرانو حاصلاتو کې د پام وړ زياتوالی راغلی

https://tolonews.com/pa/business/بلخ-کې-د-زعفرانو-حاصلاتو-کې-د-پام-وړ-زياتوالی-راغلی

۳ – افغانستان امسال حدود ۲۰ تن زعفران توليد کرده است

https://www.darivoa.com/a/Afghanistan-20-tonnes--saffron-produced-in-2019/5219394.html

۴ – افغانستان امسال نزديک به 20 تن زعفران توليد کرده است

https://swn.af/article.aspx?a=52123

# ارزش علامت تجارتی

بخاطر اینکه محصولات تجارتی و صنعتی تجار، تولید کنندگان یا صنعتکار فهمیده شود، آنها برای این کار علامتی را جهت معرفی اجناس خود اختیار می نمایند. فایدهٔ علامت تجارتی این است که مشتری با دیدن علامت میداند که این محصول مربوط کدام تاجر یا کار خانه می باشد. یا به عبارت دیگر علامت تجارتی نمایانگر اعتماد آن شرکت یا تاجر بوده و مشتری فقط با ملاحظهٔ علایم، مبادرت به خرید جنس می نماید.

بناءً علامت تجاری بخودی خود معرف جنسی است که حاصل زحمت سازندهٔ آن می‌باشد. از این جهت اشخاص دیگر نباید از آن، سوء استفاده نموده و به ضرر صاحب علامت مداخله کند. در شرایط کنونی بیشتر کسانی که در بازارهای کسب و کار فعالیت دارند، به اهمیت علامت تجاری پی برده اند، آنها بخوبی می دانند که اگر بخواهند از سایر رقبای شان متمایز شوند، باید محصول اش را که به مشتریان ارائه می کند، شناخته شده و سر شناس باشد.

علامت تجاری با گذشت زمان و تبلیغ، ارزش اقتصادی و شهرت پیدا نموده و به اعتبار آن افزوده می شود. از این رو قوانین اکثر کشور ها بطور معمول استعمال علامت را الزامی می دانند و برای آن مدت زمان معینی را تعیین می نمایند.

بطور نمونه در قانون انگلستان، حسن نیت متقاضی برای ثبت در مورد استفاده از علامت ضروری بوده، اگر بعد از ثبت معلوم شود که آن علامت به قصد ذخیره سازی به عنوان یک مقدمه برای استفاده از آن در آینده به ثبت رسیده باشد، چنین ثبتی قابل اعتبار نمی باشد. همچنان در کشور جاپان هر کسیکه علامتی را ثبت کند و در مدت سه سال آن را مورد استفاده قرار ندهد، هر داوطلبی می تواند تقاضای ابطال آن را از دادگاه بخواهد. در کشور فنلند علامت ثبت شده اگر مورد استفاده قرار نگیرد، بعد از پنج سال لغو می گردد.

نقش عمده و اساسی علامت تجاری در جریان تجارت داخلی و بین المللی آنرا به سرمایهٔ با ارزشی مبدل نموده و برای حفظ و حمایت از آن و حقوق مالک آن، قوانین داخلی و معاهدات بین المللی تصویب شده است. حقوق مالکیت صنعتی یکی از شاخه های اساسی حقوق مالکیت معنوی است که با بمیان آمدن صنعت جدید به کشور و برای حمایت از حقوق صاحبان صنعت و تجارت مخترعین و نو آوران در زمینه های فنی، تجارت و زراعت شناخته شده و مورد حمایت قانونی قرار گرفته است.

ثبت علامت تجاری کمک می کند تا محصولات از همدیگر تفکیک شوند، زیرا محصولات تجاری شرکت ها با علامت تجاری از همدیگر متمایز می گردند. ثبت علامت تجاری یکی از ابزار مهم بازار نیز بوده و جزء ضروری موافقتنامه های اعطای

»

نمایندگی بشمار می رود. در بعضی اوقات علامت تجاری و کسب و کار موفق بیشتر از سایر دارایی های آن شرکت ارزش دارد. همچنان با ثبت علایم تجارتی می توان از عرضهٔ کالا های یکسان یا مشابه نشان تجارتی تان که بصورت گمراه کننده استفاده می نمایند، جلو گیری بعمل آید.

علایم تجارتی عبارت از نام، علامت، نشانه و نمادی است که به منظور معرفی محصولات یا خدمات یک شرکت تجاری و متمایز ساختن آن از محصولات شرکت های دیگر استفاده می شود. علایم تجارتی در واقع عبارت از همان نشانه، سمبول یا آرم شرکت ها است که برای معرفی یا ارائه خدمات، مورد استفاده قرار می گیرد و به خریدار کمک میکند که با ملاحظهٔ آن روی یک کالا اقدام به خرید نماید. علایم تجارتی هر شرکت منحصر به فرد است، این بدان معنا است که دیگران حق استفاده از آنرا در تجارت خود ندارند.

علایم تجارتی دارای ارزش مادی و معنوی بوده و قابلیت خرید و فروش به غیر را دارد. از طرف دیگر از نظر ارزش و قدرت یکسان نبوده و یک نشان تجاری قدرتمند از ارزش زیادی برخوردار است. طوریکه در جهان علایم تجاری بسیار قوی وجود دارد که دارای ارزش بسیار بالای می باشند و ارزش شان بر اساس شهرت، میزان فروش، سود خالص و ارزش سهام آن تعیین می گردد.

جهت تفکیک و تمایز انواع محصولات صنعتی یا زراعتی می‌توان از علامت های مانند عکس، حرف، اعداد، و ...، استفاده کرد. همچنان علامت تجاری باید از نوآوری برخوردار بوده و تکراری نباشد، تاریخ ثبت، شماره ثبت علامت، مکان پیشه و سکونت گاه صاحب شرکت و مدت زمان اعتبار تولید و انقضاء محصول ضروری پنداشته می شود. ثبت علامت تجاری ضمانت میکند که مشتریان بتوانند محصولات را درست تفکیک نمایند. چسپاندن نمونهٔ از علامت در مکان مخصوص محصولات ضروری است.

بعد از انقلاب صنعتی و پیشرفت در عرصه های مختلف علوم، بخصوص در زمینهٔ تولیدات و محصولات زراعتی، مالداری و صنعتی رشد قابل توجهی بمیان آمده است. از همینرو محصولات مختلفی تولید می شود که جهت فروش به جلب مشتری نیاز دارد و مشتری هم نیاز دارد تا مرغوب ترین آنها را بخرد.

در این عرصه تولید کننده در صدد به دست آوردن مشتریان و مصرف کننده‌گان بهتری است. به همین منظور تولید کنندگان برای پیدا کردن بازار فروش، اقدام به معرفی تولیدات خود از طریق مارک یا علامت تجاری و عرضهٔ کالا و محصولات با مارک مشخص می نماید.

رشد جمعیت و شکل گیری شهرهای بزرگ با جمعیت انبوه، سبب شده تا آشنایی عموم مردم در شناخت محصولات یا خدمات با مشکلات عدیدهٔ روبرو شود، ولی همین مارک یا علامت تجاری می تواند به شناخت مصرف کننده‌گان کالا و خدمات کمک مؤثری نماید. در حقیقت همین مارک های تجارتی بهترین واسطهٔ برای معرفی کالاها یا خدمات به مصرف کننده‌گان می باشند.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


۱- WIPO trademarks › https://www.wipo.int العلامات التجارية

۲- www.zapmeta.ws/Search_The_Web- Trademark Registration | Search - Trademark Registration Ad

۳- https://karareigster.com › نام تجاری چیست؟ - کارا ثبت - ثبت شرکت کارا ۲۸-نام-تجاری-چیست؟



# په ملي اقتصاد کې د صنعت رول او د هغه ځانګړتیاوې

زمونږ د ګران هېواد افغانستان په ګډون د نړۍ هر هېواد هڅه کوي چې په صنعتي سکتور کې د پام وړ پرمختګ وکړي او خپل هېواد د اقتصادي پرمختګ په لور روان کړي.

په اقتصادي ادبیاتو کې له اومو موادو یا نیم کاره توکو څخه د یو ضروري جنس پروسس یا د اقتصادي جنس یا خدمت تولید ته صنعت (Industry) وایي. یا هم صنعت د وګړو د ګټې اخیستنې په خاطر د اومو او لومړنیو توکو د بڼې بدلون دی چې د استفادې د وړتیا په خاطر پر دغو لومړنیو موادو باندې د صنعت عملیه ترسره او بڼه یې بدلون کوي. د بېلګې په توګه له لرګي څخه د میز، څوکۍ، دروازې او نور توکو جوړول؛ له طبي بوټو څخه د درملو جوړول؛ له څرمنې څخه د بوټانو جوړول؛ له خټو څخه د منګي، مټې او نورو خټینو لوښو، له ګنیو څخه د بورې جوړول؛ له شړشم څخه د غوړیو ایستل، له لوخو څخه د پوزیو جوړول او داسې نور.

په اروپایي ژبو کې صنعت ته (Industry) وایي، موخه یې هغه پروسه ده چې د هغې په ترڅ کې اومه مواد په کار تمامو تولید شویو توکو بدلېږي.

د بازار په نظام کې صنعت د اومو موادو پروسس (انډي کولو) او په یو بشپړ رقابتي بازار کې د صنعتي انډي کولو هغه چوکاټ دی چې ګڼ شمېر کار ځایونه د ورته جنس د تولید لپاره هلته سیالي کوي، نن ورځ د تېرې په پرتله یوه پرمختللې، پېچلې، اتومات، میکانیزه او بدلون بڼه ځانته غوره کړې ده او له



**تاج محمد تمکین**

د افغانستان بانک د ختیځ زون اقتصاد پوه

مانو فاکتور څخه ماشیني پړاو ته اوښتې، خو د نړۍ په یو شمېر پرمختیایي هېوادونو کې لاسي صنعت لا هم د ودې په ملي تولید کې اوچت ارزښت لري. د بېلګې په توګه په افغانستان کې لاسي ګنډل، د غالۍ او ټغر اوبدل او پوستین جوړول لا اوس هم د مانو فاکتور په کتار

»

کې راځي او د هېواد په اقتصاد او پردندو د وګړو ګومارنې کې یې خپل ارزښت ساتلي دی. حال دا چې د امریکې په متحده ایالاتو، جرمني، انګلستان، کاناډا، روسیې او د نړۍ په یو شمېر نورو هېوادونو کې ماشیني صنعت څو ځله پیاوړی او پرمختللی دی چې دوی یې د اتو یا اوو صنعتي هېوادونو ($G_8$ / $G_7$) په کتار کې درولیدي. په دغو هېوادونو کې صنعتي څانګو یو له بل سره ځانګړې اړیکې ټینګې کړې دي، لکه د خوراکې توکو پروسس او اڼې کول، کاغذ او کارتن جوړول، د ماشین جوړول او د ټوکرانو اوبدل. دا ټولې هغه بیلګې دي چې د هغو په ترڅ کې لومړني اومه توکي، د بڼې په بدلون سره د کارولو وړ ګرځي او اقتصادي ارزښت پیداکوي.

یو شمېر نورو اقتصاد پوهانو صنعت داسې تعریف کړی دی:

د انسانانو د ګټې اخیستنې په موخه د اومو موادو او توکو د بڼې بدلون صنعت دی. په دې توګه ویلي شو چې د صنایعو مفهوم د لومړنیو او اومو توکو د بڼې په بدلون کې نغښتی دی چې د انسان د شعوري او هدفمند کار له امله په هغو کې ګټورتوب ورزیاتیږي او د هغه په ترڅ کې د لومړنیو اومو توکو کیفیت او ارزښت او د کار وړتیا لوړیږي.

د بدلون دغه چلند او بڼه (پروسیجر) د انسان د مټ او کار په زور تر سره کیږي، نو د انسان کار هغه ځواک دی چې د دغو صنعتي توکو په تولید کې لګیدلی دی او هغو ته یې اقتصادي ارزښت ورکړی دی. کېدای شي اومه او خام مواد یا د صنعت لپاره خام توکي به لومړی په نیم کاره موادو تبدیل شي او بیا وروسته په بشپړو کارتمامو موادو بدلیږي، لکه له کان څخه د اوسپنې را ایستل او بیا په پولادو د هغې بدلون او ورڅخه د پرزو او ماشین الاتو جوړول، یا له وړیو څخه د تارونو او سپنسیو جوړول او بیا وروسته له هغو څخه د شړۍ، ټغر، غالۍ او پټوګانو اوبدل، په دې توګه د وړیو تارونه او سپنسي نیم کاره توکي او پټو، ټغر او شړۍ کار تمام توکي او صنایع بلل کیږي.

لکه چې پوهېږو صنعت د توکو او لومړنیو اومو موادو بڼې د بدلون پروسه ده چې په ژوند کې د دغې پروسې له وروستي محصول او کار تمامو اجناسو څخه ګټه اخیستل کیږي او ورځنې ژوند کې په کاریږي.

صنعتي اقتصاد، د اقتصاد د علم د یوې برخې په توګه د بېلا بېلو صنعتي ګټګوریو ( لکه انجینرانو، تخنیکرانو، ماهرو کارګرانو او نورو پوهو کارګرانو) او صنعتي اقتصاد په رهبري او مدیریت کولو، د صنعتي تولید د ودې د طریقو او عواملو د موندلو او ښودلو، د صنعتي کارتمامو اجناسو د تولید او ترلاسه کولو لپاره د اومو توکو د چمتو کولو، په صنعت کې د لګښتونو د کمولو او د باکېفیته اجناسو د تولید په اړه بحث کوي.

باید وویل شي چې نن ورځ د انسان لپاره د ژوند د وسایلو په چمتو کولو کې د لاسي صنعت ترڅنګ، ماشیني صنعت هم زیات ارزښت موندلی دی او صنعتي کول د هر هېواد اقتصادي اړتیا ده، د صنعتي کولو د پروسې په جریان کې ورځ په ورځ د صنعت سرچینې زیاتوالی مومي او هڅه کېږي چې اقتصادي جوړښت نوی شي.

دا هم باید وویل شي چې دوه عوامل یعنې انساني ځواک او سرچینې د صنعت په پرمختګ کې مهم دي، طبیعي سرچینې لکه د ډبرو سکاره، وسپنه، نفت، ګاز، سیندونه، د باد او لمر انرژي او نور

نن ورځ په نړۍ کې د ژوند په راز راز ډګرونو لکه کلتور، سیاست، حقوقو، کرنې، تجارت او نورو بې شمېره برخو کې د صنعت د پرمختګ لپاره په کار راځي.

څرنګه چې د یو هېواد او د یوې ټولنې لویه هیله د دوی د اړتیاوو پوره کېدل، د دوی د معنوي او مادي ژوند د کچې لوړېدل او هوساینه ده، نو د خلکو دغه هیله تر ډېره بریده پورې پر صنعت پورې تړلې ده، صنعت د انسانانو د کلنۍ ګټې په زیاتېدو اغیزه لري.

سره له دې چې کرنه هم د هېوادونو د اقتصاد په ښه کېدو کې ارزښت لري، خو کرنه تر ډېره بریده پورې پر طبعي، اقلیمي او بشري شرایطو پورې تړلې ده، نو ځکه یې د عاید او حاصل اټکل کول مبهم او ستونزمن وي. د صنعت په پرمختګ کې د کرنېزو محصولاتو ترڅنګ کاني زېرمې هم اهمیت لري، نو د صنایعو د پرمختګ لپاره باید د کرنې پرمختګ هم ډاډمن شي، لکه څرنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه. صنعت له لومړنۍ لاسي بڼې څخه پرمختګ وکړ او نن ورځ تر ډېره بریده تر پرمختللې ماشیني صنعت پورې رسېدلی دی.

د صنعتي کېدلو پروسې ته ټول پرمختیایي هېوادونه لېواله دي او لامل یې دا دی چې د یوې خوا په اقتصاد کې د تولید کچه زیاتېږي او له بلې خوا د ټولنې اړتیاوې په چټک شکل پوره کېږي او د اړتیا وړ مواد په ډېر لږ وخت کې چمتو کېدای شي. په ملي اقتصاد کې د صنعتي کېدلو ستراتیژي ځانګړی رول لري، که وګورو هغه هېوادونه چې پرمختللي دي یا ورته پرمختللي هېواد ونه ویل کېږي.

دویم نوم یې په معادله توګه د صنعتي هېوادونو په نامه یادېږي. د صنعتي کېدلو د پروسې څخه چې کوم هېوادونه تېر شي نو په ملي عوایدو کې یې د پام وړ زیاتوالی راځي.

په دې هیله چې یوه ورځ به افغانستان هم د صنعتي هېوادونو په لیکه کې ودرېږي.●

سرچینې:


۱. فوګت، اریش (۱۳۷۳)(مترجم : محمد انور دوست)، سیاستهای انکشاف حرفوی وصنایع دستی، پوهنځی اقتصاد: مطبعه پوهنتون : کابل – افغانستان.

۲. دودیال، محمد بشیر . (۱۳۸۳). صنایع در افغانستان و نقش آن در اقتصاد ملی، انتشارات کتابخانه های سیاراریک : پشاور – پاکستان.

۳. ډاکټر سټیپن پاول.(۱۳۹۰ ل)، د شرکتونو د تمویل او پانګې اچونې اساسات : ګودر خپرندویه ټولنه :جلال اباد– افغانستان .

۴. یادګاری، محمد اشرف (۱۳۹۴) اقتصاد صنعتي، انتشارات سعید، مطبعه سباوون، کابل – افغانستان.

Clark, Roger. (1985), Industrial Economics, New York: Basil Blackwell.

# د کورنیو وریجو په تولید کې نهه سلنه زیاتوالی

**د میلیونونو ډالرو په ارزښت د وریجو په وارداتو کې کموالی راغلی دی.**

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د وروستیو خپرو شویو شمېرو پر بنسټ، د تېر کال په پرتله په هېواد کې د وریجو په سږنیو حاصلاتو کې نهه سلنه زیاتوالی راغلی دی.

دغه زیاتوالی د وریجو د تولید په برخه کې د کابو ۶۶ سلنې ځان بسیاینې او هېواد ته د میلیونونو ډالرو په ارزښت د وریجو وارداتو د کموالي لامل شوی دی.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت چارواکي وايي، په هېواد کې د وریجو د تولید او هېواد ته د بهرنیو وریجو د وارداتو په اړه دغه سروې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت او دغه راز د احصائیې او معلوماتو د لوی ریاست له لوري تر سره شوې ده.

د دې سروې پر بنسټ روان کال د هېواد د ۱۸ ولایتونو په ۹۸ ولسوالیو کې شولې کرل شوې وې چې په دغو ولایتونو کې د شولو د کرکېلې ټوله سیمه کابو ۱۲۸ زره هکټارو ته رسیږي او تېر کال دا شمېره کابو ۱۱۶ زره هکټاره وه.

کندز، تخار، بغلان، ننګرهار، بلخ، کونړ، سرپل، بدخشان، بامیان، غور، دایکندي، ارزګان، هرات، بادغیس، لغمان، کابل، خوست او پکتیا هغه ولایتونه دي چې په کې د شولو کرکېله کېږي. په هېواد کې د وریجو د تولیدوونکو ولایتونو په ډله کې کندز لومړی مقام لري.

معلومات ښيي چې د دې سروې پر بنسټ په هېواد کې د تېرکال په پرتله د شولو کروندې هم نهه سلنه زیاتې شوي دي.

د یاد سروې پر بنسټ په هغو ولایتونو کې چې سږکال د شولو کرکېله په کې شوې ده، ستر لامل یې د پریمانه اوبو شتون او د شولو د کروندګرو له لوري د وریجو د زیاتو حاصلاتو له لارې د خپلو عوایدو د زیاتوالي لپاره د خپلو کروندو سیمې پراخې کړې دي.

د اوبولګولو د شبکو جوړول، د شولو ښه حاصل ورکوونکې نژادونه (ورایټۍ) پېژندل او بزګرانو لپاره د شولو روزنیزې او نندارېزې قطعې جوړولو د شولو د حاصلاتو په زیاتوالي کې

»

رغنده رول لوبولی دی.

د دې سروې له مخې روان کال د وریجو د تولید کچه کابو ۳۸۳ زره متریک ټنو ته رسیږي او د تېر کال په پرتله چې ۳۵۲ متریک ټنه وه نهه سلنه زیاتوالی ښیي.

په ۱۳۹۷ کال کې ۳۵۲ زره متریک ټنه وریجې تولید شوې وې، خو سږ کال دغه شمېرې ۳۸۳ زره متریک ټنو ته رسیږي.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پربنسټ افغانستان په کال کې ۵۸۸ زره ټنه وریجو ته اړتیا لري چې اوسمهال د ۳۸۳ زره ټنو په تولید سره خپلې ۶۶ سلنه اړتیاوې پوره کولای شي.

د دې معلوماتو له مخې د تېرکال په پرتله د وریجو په کچه کې له نهه سلنې زیاتوالي سره، د روان کال د لومړی دریمې ربعې په ترڅ کې هېواد ته د وریجو واردات د تېر کال د دریمې ربعې په پرتله د ۲۸ میلیونه ډالرو په ارزښت کابو ۱۸۰ زره متریک ټنه کم شوي دي.

شمېرې ښيي چې په وروستیو دریو کلونو کې هېواد ته د وریجو په وارداتو کې کموالی راغلی دی.

د معلوماتو پربنسټ د ۱۳۹۶کال په دریو لومړیو ربعو کې د وریجو د وارداتو کچه د ۱۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت ۲۳۴ زره ټنه ته رسېده او په ۱۳۹۷ کال کې د ۹۴ میلیونه ډالرو په ارزښت ۱۸۰ زره متریک ټنه ته راټیټه شوه او د روان کال په لومړیو دریو ربعو کې هېواد ته د وریجو د وارداتو دا کچه نوره هم راټیټه شوې ده او د ۶۵ میلیون ډالرو په ارزښت ۱۳۲ زره ټنه ته رسېدلې ده.

تمه ده چې په دې برخه کې به لا نور پرمختګونه هم رامنځته شي او هېواد ته د وریجو د وارداتو په برخه کې به د لیدنې وړ کموالی راشي چې په دې سره به له هېواد څخه بهر ته له تلونکو اسعارو څخه مخنیوی وشي او یاد اسعار به د افغانستان په کورنې بیلانس کې ور زیات شي.

باید وویل شي چې د غنمو تر څنګ وریجې هم د هېوادوالو اساسي خواړه دي او د هرې ورځې په تېرېدو سره یې غوښتنې زیاتېږي. په داسې حال کې چې پر افغانستان باندې د څه د پاسه څلویښت کلنو تېل شویو خونړیو جګړو څخه د مخه آن د هېواد وریجې بهر ته صادرېدې.

سرچینه:

۱. د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت/ د خپرېدو نېټه: دوشنبه ۱۳۹۸/۹/۱۸

۲. https://www.mail.gov.af/ps/د-وریجو-د-تولید-نهه-سلنه-زیاتوالی-۶۶-سلنه-پر-ځان-بسیاینه-او-د-میلیونونو-ډالرو-په-ارزښت-د-وریجو-د

# دارایی مشهود و غیر مشهود

دارایی های مشهود شامل دارایی های فزیکی و مالی بوده که بصورت فزیکی در بیلانس منعکس می گردد و با استفاده بیشتر از آنها از ارزش شان کاسته می شود. در مقابل دارایی های غیر مشهود به دو دسته تقسیم می شوند. اگر دارایی های غیر مشهود تحت قانون قرار داشته باشد، مالکیت معنوی به حساب می آید که شامل حق امتیاز، کاپی رایت، حق اختراع، مارک تجارتی و ...، می باشند که ممکن برخی از آنها در بیلانس نیز منعکس شوند. سایر دارایی های غیر مشهود عبارت از سرمایه های فکری بوده که تحت اصول اقتصادی عمل می نمایند و با استفاده بیشتر از آنها از ارزش شان کاسته نمی شوند و در بیلانس نیز منعکس نمی گردد. طوریکه به مشاهده می رسد، امروز در تمام نهادها علاوه بر دارایی های مشهود، دارایی های غیر مشهود ارزش فراوان دارد، زیرا این منابع جزء منابع بی پایان و از عناصر کلیدی هر نهاد بشمار رفته و از مهمترین دارایی های یک نهاد به حساب می آید. این سرمایه زادۀ علم و دانش است و می تواند نقش بسیار مهمی را در راستای موفقیت های مزید و مستمر یک نهاد ایفاء نماید.

دارایی های غیر مشهود یا Intangible Asset شامل دارایی های است که به صورت فزیکی قابل مشاهده نمی باشد و در واقع ایده ها و اطلاعاتی که در مورد فعالیت های تجاری حاصل می گردد، به شکلی دارایی های غیر مشهود محسوب می گردد.

استندرد حسابداری بین المللی شماره ۳۸، دارایی های غیر مشهود را چنین تعریف می نماید: دارایی های غیر مشهود یک دارایی غیر پولی، قابل شناسایی و بدون وجود فزیکی می باشد که در تولید یا عرضۀ کالاها و خدمات از آن استفاده بعمل می آید.

دارایی غیر مشهود از تحصیل حقوق و خدمات ناشی می شود. وجه نقد یا مبالغی که جهت تحصیل آن ها پرداخت می شود، نوع مصارفی است که برای تبلیغات، تحقیق و توسعه و مصارف آموزش به مصرف می رسد. دارایی های غیر مشهود هم مانند تمام اموال دیگر جزو دارایی های فرد محسوب می شوند. بنابر این هنگامی که معیارهای شناسایی دارایی را داشته باشند، مخارج آنها به حساب سرمایه گذاشته شده و مصرف نمی شوند، این معیار ها عبارت از اقلامی است که با تعریف دارایی مطابقت داشته، قابل اندازه گیری بوده و قابل اتکاء باشند.

اقتصاد دانش محور در مقابل سایر عوامل تولید مانند زمین، سرمایه، ماشین آلات و ...، از ارجحیت بیشتر برخوردار است و در این عرصه دانش به عنوان مهمترین عامل تولید محسوب می گردد. پایه های غیر مشهود اقتصاد بر اساس سرمایه فکری بنیان گذاری شده و مادۀ اصلی آنرا دانش تشکیل می دهد.

ورود اقتصاد دانش محور در یک نهاد در مقایسه با سایر عوامل تولید از اهمیت فوق العاده برخوردار بوده و به عنوان مهمترین مزیت رقابتی یک نهاد محسوب می گردد »

که پایهٔ آن هم بر اساس اطلاعات استوار می باشد. تجارب و شواهد نشان می دهد که عملکرد کارکنان پائین، یک اداره را به مشکلات عدیده مواجه می سازد.

در اقتصاد دانش محور سرمایهٔ فکری بخش مهمی از ارزش شرکت ها پنداشته شده و توانایی برای مدیریت آن مستلزم این است که سرمایه فکری را شناسایی و اندازه گیری کرد. گرچه ارزش گذاری و اندازه گیری آن دشوار بوده با آنهم موفقیت یک نهاد وابسته به توانایی مدیریت دارایی های غیر مشهود آن بستگی دارد.

پیتر دراکر که در سال ۱۹۰۹ به دنیا آمده و در سن ۹۶ سالگی در گذشته است، اصلاً از اتریش بوده و بیشتر قسمت زندگی اش را در امریکا سپری نموده است. او در دورانی زندگی می کرد که تکنالوژی اطلاعات به تدریج در حال شکل گرفتن بود، به همین دلیل او اصطلاح کارگران دانش محور یا Knowledge Worker را در سال ۱۹۵۹ ابداع کرد.

او می گوید که دانش جانشین سرمایه، ابزار، مواد اولیه و نیروی کار در فعالیت های تجارتی خواهد شد و راه های ترقی و پیشرفت دیگر وابسته به زمین، تجهیزات و امکانات تولیدی نخواهد بود. بعد از این ارزش در تمام نهادها از طریق دارایی های نا ملموس که به آن سرمایهٔ فکری گفته می شود ارتباط خواهند داشت. مدیریت درست سرمایهٔ فکری یک کشور مستلزم ایجاد نظام مبنی بر متغییر است که به آشکار سازی دارایی های غیرمشهود کمک می نماید، دارایی های غیر مشهود پاسخگوی نیاز های جامعه می باشد. دارایی های غیر مشهود موجودیت ظاهری نداشته و تعیین عمر آن دشوار است.

در این اواخر سرمایه گذاری در دارایی های غیر مشهود بطور چشم گیری افزایش داشته است، این نوع دارایی عمر طولانی داشته و غیر قابل لمس می باشد که توسط یک شرکت تجاری توسعه یافته و جزء دارایی های آن شرکت محسوب می گردد. در جریان سال های اخیر سازمان توسعه و همکاری های اقتصادی در بررسی های خود نشان داد که در برخی از کشور ها، سرمایه گذاری در دارایی های غیر مشهود در رقابت با سرمایه گذاری در دارایی های مشهود قرار دارند.

بطور نمونه در کشورهای مانند امریکا و فینلند، در سال ۲۰۰۲ سرمایه گذاری در بخش دارایی های غیر مشهود نسبت به سرمایه گذاری های مشهود بیشتر بوده است. در جاپان سرمایه گذاری غیر مشهود از سال های ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۵ نسبت به سرمایه گذاری های مشهود ۷۵ درصد افزایش داشته است. بعضی دانشمندان دارایی های نا مشهود را به دو بخش تقسیم کرده اند که عبارت از دارایی های غیر مشهودی که در داخل شرکت ایجاد می گردد و دارایی های غیر مشهودی که از خارج شرکت بدست می آید.

**عبدالحفیظ شاهین**

## منابع:


Examples of intangible assets -1
https://www.accountingtools.com
AccountingTools what-are- —
examples-of-intangi... ‹ articles ‹
۲- https://www.arageek.com ما هی
انواع راس المال – AraGeek مفاهیم اقتصادیة ›
مال وأعمال ›لیبیة ›
۳- ‹ blogfa post
maryammohajerani.blogfa.com
دارایی های ثابت مشهود و نامشهود – حسابداری



## ګرانو هېوادوالو!

## ملي بيرغ، ملي سرود او ملي پيسې زمونږ د ملی ارزښتونو له ډلې څخه دي

### اطلاعیهٔ د افغانستان بانک

به تعقیب اطلاعیه قبلی؛ د افغانستان بانک یک بار دیگر به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که تعدادی از افراد در مرکز و بعضی از ولایات هنوز هم تحت نام تجارت آنلاین فورکس به معاملات مالی اقدام می نمایند. د افغانستان بانک تا اکنون به هیچ فرد یا شرکتی جواز فعالیت آنلاین فورکس را صادر ننموده و در این زمینه تمام فعالیتها غیر قانونی می باشد. از اینکه داد و ستد با چنین افراد و شرکت ها عاری از خطر نبوده و زیان های مالی را برای هموطنان ما به بار می آورد، از هموطنان عزیز جداً تقاضا می نمائیم تا از انجام معاملات با چنین افراد و شرکت ها خودداری نمایند.

د افغانستان بانک در تلاش است تا افرادی که چنین فعالیت ها را راه اندازی می نمایند، شناسایی نموده و به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی نماید.

# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک

سال سیزدهم شماره ۱۵۱، جدی ۱۳۹۸



## افغانی؛ زمونږ د ویاړ، اقتدار او ملي هویت نښه ده!